# اسانه اسلامپوهنه

(د ژېړو لپاره)

لیکوال:

شیخ محسن قرآیتي

ژباړه:

ډاکټر ذبیح الله اقبال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

# د لوراند او لورین الله په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډالۍ:

د خپل نیکه

مرحوم الحاج **استاد عظیم خان**

سپېڅلې اروا ته

چې پر ۱۳۹۲ ل په وحې تاتوبې کې له عمرې ادا کولو روسته په حق ورسېد او په مکه معظمه کې خاورو وسپارل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسانه اسلامپوهنه

## (د ژنیو لپاره)

لیکوال:

شیخ محسن قرآیتي

ژباړه:

ډاکتر ذبیح الله اقبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نامه: اسانه اسلامپوهنه ( د ژړيو لپاره )

ليکوال: شيخ محسن قرآيتي (د تفسير نور مفسر )

ژباړن: ډاکټر ذبيح الله اقبال

وېبپاڼه: www.andyal.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

لومړۍ زده کړه: دین څه دی؟........................................ ۹
د حق دین نښې:........................................................ ۱۰
دویمه زده کړه: له نعمتونو یې پنځګر پېژندل ................................ ۱۵
درېیمه زده کړه: د الله ځواک او حکمت ........................................ ۱۸
څلورمه زده کړه: له الله سره اړیکه ........................................ ۲۱
پینځمه زده کړه: لمونځ، د الله مننه ده ........................................ ۲۵
شپږمه زده کړه: لمونځ ........................................ ۲۸
اوومه زده کړه: الهي عدل (نیاو) ........................................ ۳۱
اتمه زده کړه: ټولنیز نیاو........................................ ۳۵
نهمه زده کړه: د بشر لارښودان ........................................ ۳۸
لسمه زده کړه: د رسول الله (ص) اخلاق........................................ ٤٥
یوولسمه زده کړه: له رسول الله (ص) او کورنۍ یې سره مینه.............. ٤۷
علي (ک)........................................ ۵۱
بي بي فاطمة زهرا ........................................ ۵۳
دیارلسمه زده کړه: امام حسن او امام حسین (حسنین) ........................ ۵۵
څوارلسمه زده کړه: خپره شوي لورنه (امام مهدي) ........................ ۵۹
د رسول الله په بعثت کې د الله لورنه........................................ ۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library




پینځلسمه زده کړه: اخروي نړۍ .......................................... ۶۲
شپاړسمه زده کړه: ثواب او عذاب.......................................... ۶۶
اوولسمه زده کړه: د پنځګړ وېناوې (حمد سورت) ........................ ۶۹
د ګټنې او تاوان توپیر .................................................... ۷۹
نولسمه زده کړه: د پنځګړ وینا (درې نعمتونه) ............................ ۸۳
یوویشتمه زده کړه: د پنځګړ وینا (له سختیو به نه ډارېږو ) .............. ۸۶
یوویشتمه زده: اسلامي اخلاق (دروغ) .................................... ۸۸
د دروغو ډولونه:........................................................... ۹۰
دوه ویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (ژبه)................................. ۹۲
د نېکیو سرچینې........................................................... ۹۲
د ژبې ځنې ښه آثار:........................................................ ۹۳
د ګناهونو سرچینه:......................................................... ۹۳
درویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (سلام اچول) .......................... ۹۵
څلرویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (حجاب) ............................. ۱۰۰
پینځه ویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (څو روغتیایي سپارښتنې).. ۱۰۵
شپږویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (روغتیایی احکام) ................ ۱۰۸
اووه ویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (ادب) ............................ ۱۱۳
د بوډاګانو په نسبت ادب................................................ ۱۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موروپلار په نسبت ادب ........................................................ ۱۱۶
د نامسلمانانو په نسبت ادب...................................................... ۱۱۷
اته ويشتمه زده کړه: د فراغت وختونه .......................................... ۱۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن خبرې

مخې ته پروت کتاب مو د اسلامي نړۍ د مشهور تفسیر؛ تفسیر نور د مفسر؛ شیخ محسن قرآیتي د کتابونو له لړۍ څخه یو کتاب دی، چې په فارسي ژبه، د ژښیو لپاره په خورا خوږو او اسانو ادبیاتو لیکل شوی دی. چې دا کتاب مې ولوست؛ نو د هغې تشې له مخې، چې موږ یې په پښتو ژبه کې لرو، اړتیا مې وننګېرله، چې باید پښتو ته هم راواړل شي؛ ځکه هغوی چې د ښوونې او روزنې په چارو کې بوخت دي، ورجو ته ده، چې د هر ټولګي د مضمون منځپانګه د د زده کړیالانو د وړتیا او عمر په پامنیوي اوډونېږي.

دا چې الحمدالله ټولنه مو یوه اسلامي ټولنه ده؛ نو موږ باید د خپلې ټولنې د هر عمر انسانانو لپاره یې د دوی د عمر له ادبیاتو سره سم، د اسلامپوهنې

مطالب راواړاندې کړو؛ نو د همدې موخې لپاره مو د ((ژښیو)) لپاره دا کتاب پښتو ته راواړه، چې پښتنو ژښیو لپاره ګټور شي.

دا کتاب په PDF بڼه په خواله رسنیو کې خپرېږي او هر مسلمان ته پکار ده، چې تر خپلې وسې یې خپور کړي او که څوک یې چاپول هم غواړي؛ نو له اندیال و ښېپاڼې یې راکوز او چاپولای شي.

په درنښت

رورمو؛

ډاکټر ذبیح الله اقبال

د ۱۳۹۸ لمریز کال/ د تلې میاشت

کابل/ احمد شاه بابا مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړۍ زده کړه: دین څه دی؟

دین د اند ، ګروهې، لارې او کړلار په مانا دی؛ که لار په حقه وي، که په باطله. قرآن کریم بوتنمانځو ته وايي: (لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ [۱] = ستاسې لپاره خپل دین او زما لپاره خپل دین. )

نو د هر چا لار، کړلار، دود او دستور یې دین دی؛ خو مهمه داده چې په حق لار او حق دین پسې ولاړ شو.

د حق دین نښې:

1 - حق دین، هغه دین دی، چې له عقل سره سمون وخوري.

بوتنمانځو له ډبرو او لرګیو بوتان تورل او نمانځل یې. قرآن ورته وايي: دا چار مو له عقل سره سمون نه خوري.

((قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ= [۲] ايا هغه څه نمانځئ، چې پخپله مو تورلي دي ؟ ! )

شونې ده په دې کړه او ناسمه لار مو پلار نیکونه هم تللي وي؛ خو نباید پرې ولاړ شو ؛ لکه څنګه چې بوتنمانځو خپلو چارو ته د مخونې

---

۱. کافرون/ ۶ آیت
۲. صافات/۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پار ويل: ((إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَى أُمَّةٍ[1] = په حقيقت کې خپل پلرونه مو پر يوه دين موندلي او بېشکه موږ يې لارويان يو))

2 - حق دين هغه دی، چې د پنځګر پالونکي له لوري وي؛ نه د نورو له لوري.

دې بېلګې ته پام وکړئ:

هر مشين او کومه مهمه وزله چې جوړه شي او بازار ته راشي؛ نو معمولا لارښود کتاب ورسره وي، چې له هغه دستګاه د ګټنې لار يې ښوولې وي.

انسان هم چې الله تعالی پنځولی ، لارښود کتاب لري، چې الله تعالی د آسماني کتاب په بڼه را استولی دی. د محصولاتو لارښود کتاب هغه ليکي، چې دا محصول/يېبره يې طراحي او جوړ کړی وي؛ نو زموږ ژوند ته هم بايد هغه الله کړلار راکړي، چې موږ يې پنځولي يو ،له اړتياوو مو خبر دی او د ستونزهواري وس مو لري.

3 - حق دين هغه دی چې د انسان ټولو اړتياوو ته کړلار ولري؛ بدن او روح ته، دنيا و آخرت ته، وګړي او ټولنې ته.

4 - حق دين هغه دی، چې عمل کول پرې د ودې او غوراوي لامل ګرځي او وخت تېرېدنه يې ناچله نه کړي او احکام يې تل تازه او په زړه پورې وي.

---

[1]. زخرف/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديني احکام؛ لکه د ايکي يو الله لمانځنه، له پاکو او سپېڅليو خلکو لاروي، د خلکو حق په پام کې نيول، ګټور خواړه، زده کړه او کار، د نورو درناوی او له بېوزليو سره مرسته کول. چې يو له دې احکامو ځنې هم د کوم ځانګړي وخت او ځای لپاره ځانګړي نه دي؛ بلکې تل په هر ځای او وخت کې ژوندي دي.

د تل ژوندی امام حسين (رض) وينا، چې و يې ويل: ((هيهات منا الذلة)) هېڅکله به ذلت ته غاړه کېنږدم؛ که څه پخپله او ځوځات مې شهيدان شي. دا شعار په ټولو ځايونو او وختونو کې د ټولو انسانانو لپاره ښکلا لري او له چلنه نه غورځېږي.

هو ! له الله تعاليه مننه، چې په لمانځه کې ده،

د لوږې ځکل او د لوږو ياد، چې په روژه کې دی،

له مال، ځان او دينه دفاع، چې په جهاد کې ده،

د بېوزليو لاسنيوی، چې په خمس او زکات کې دی،

نېکيو ته د خلکو رابلل، له چټليو او ناوړه کړنو د نورو خلاصون ته هڅې، چې په ((امربالمعروف او نهی عن المنکر)) کې دي،

د پاکۍ سپارښتنه، چې په اودس، غسل کولو، د نوکانو په اخستو او سر او خېرې په پاکوالي کې ده،

ادب رعايتول، سلام اچول او بې بلنې يو ځای ته نه ورتګ، د موروپلار، خپلوانو او ښووندانو درناوی او پر ژمنه وفا، چې ديني کړلارې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په زرونو نورې دیني کړنلارې، هېڅکله نه ناچله کېږي او د لمر په څېر د دین په آسمان کې ځلېږي او ټولو ته مانیزه انرژي وربښي.

هغوی چې دیني کړلارې نه کاروي او له کوټلي دینه نه برخمنېږي؛ نو دوه لارې یې په مخ کې دي:

1 - یا دې په خپل اند او سلیقه عمل وکړي، چې نن یا سبا به پښېمانه شي.
2 - یا پر بشري قوانینو اډانه وکړي، چې د محدودو انسانانو له انده او یا د هغو کسانو له فکره راولاړ شوي، چې د خپلو ځاني غوښتونو او ظالمانو په لومو کې ښکېل دي.

نن د بشر حقوقو لپاره تر ټولو مهم ځای، ملګري ملتونه دي؛ خو ځینو هېوادونو؛ لکه آمریکا پکې د وټو حق لري؛ یعنې که د نړۍ د ټولو هېوادونو استازي یو هوډ ونیسي، امریکایان یې، په یوازې ځان ردولای شي. دا زموږ په پېر کې د بشري حقوقو څېره ده.

خو په قرآن کې لولو: (( قانون، د الله تعالی حق دی او ان پېغمبر حق نه لري، له ځانه یو ټکی پکې ورزیات کړي او که داسې وکړي؛ نو الله تعالی به یې د ژوند رګ پرې کړي.[1] ))

هو ! لکه څنګه چې یو رنځور د خپلې روغتیا لپاره د طبیب لارښوونو ته غاړه ږدي او لکه څنګه چې موږ خپل موټر د جوړولو لپاره مستري

---

[1]. حاقه: ۴۴-۴۶ آیتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ور ورو ؛ نو نېکمرغۍ ته د رسېدو لپاره باید الهي احکامو ته غاړه کېږدو.

هغه الله تعالی چې تر طبیب او مستري په زرونو ګرایه پوه او پر انسان لوراند او لورین دی؛ یوازې هغه خبر دی، چې انسان څرنګه یو موجود دی او کوم چار یې چې په ګټه دی، هغه یې فرض یا مستحب کړی دی او څه یې چې په ګټه نه دي، هغه یې حرام یا مکروه کړي دي.

پردې سربېره چې الله لاربنود کتاب را استولی، د بشر لاس یې د پېغمبرانو، سپین لمنو او عادلو امامانو په لاس کې ورکړی دی.

قرآن کریم هغه دین یو بشپړ دین ګڼي، چې پر ښو احکامو درلودو سربېره، د ټولنې مشري هغه ته ور وسپاري، چې بشپړ کمالات ولري. د مایده سورت په درېیم آیت کې لولو ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ = نن مې ستاسې دین د ربشپړ کړ )) نن مې دین دربشپړ کړ؛ او دا هماغه ورځ وه، چې رسول الله (ص) له خپل روستي حج نه په راستنېدو کې په ((خم غدیر )) نومې ځای کې ودرېد او د خپل پالونکي په حکم یې د حضرت علي کرم الله وجهه لاس را پورته کړ او خلکو ته یې وویل: (( من کنت مولاه فهذا علی مولاه[1] )) د چاچې زه مولا یم، علي یې هم مولا دی.

---

[1]. اصول کافي، لومړی ټوک، ۴۲۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه زده کړه: له نعمتونو یې پنځګر پېژندنه

ځان ته ګورم او وینم، چې پخپله مې ځان نه دی جوړ کړی؛ نو یو پنځګر لرم.

زما پنځګر باید یو پوه وسمن وي، له ما سره مینه ولري، زما له ټولو اړتیاوو خبر وي او په پوره کولو یې وسمن وي.

هغه زما لوراند پنځګر څښتن دی.

هر نوزېږی، چې دې نړۍ ته راځي، لومړی څیز، چې اړتیا ورته لري، خواړه دي؛ خو هېڅوک هم نه پېژني او د یوه کار د کولو وس هم نه لري!

که ټول متخصصان سره راټول شي او وغواړي د دې نوزېږي د خوړو لپاره یوه لار وټاکي؛ نو څه به کوي؟ خواړه به یې څه وي؟ کوم توکي باید ولري او د تودوخې په کومه درجه کې دې وساتل شي؟ څوک یې چمتو کړي او څنګه دې نوزېږي ته ورکړل شي؟

د نوزېږي یوازې یو کار زده او هغه هم تی رول، نه څه ژوولی شي او نه پوکی ورکولای شي.

تر موره به څوک مهربانه او د مور تر شیدو به کوم خواړه غوره وي؟ نوځکه د نوزېږي خواړه د مور تر سترګو او ځارنې لاندې دي، چې مور وکولای شي د خپل نوزېږي ساتنه وکړای شي او خواړه یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې او محبت سره مل وي. خواړه هم تل چمتو وي او سړولو او ګرمولو ته اړتیا هم نه لري.

که دا دومره نعمتونه نه ول؛ نو څه به کېدل؟

که مور شیدې نه درلودای؛ که ماشوم د رووولو پر ځای پوکی ورکول؛ که یې نشول کولای، په ژړا خپله لوږه ښرګنده کړي؟ که د نوزېږي ټولې اړتیاوې د مور په شیدو کې نه وې او که د مور مینه لږه وای او د یوه داسې درووند مسوولیت منلو ته چمتو نه وه؛ نو بیا؟

کومه پوهه او ځواک دی، چې وکولای شي، په دې اړتیاوو یې سر خلاص شي او په دقیقه توګه ټولې پوره کړي؟

ښنتنه! زه خو په خپلو اړتیاوو نه پوهېدم او نه مې مورو پلار خبر ول، چې کوم خواړه راته په کار او ګټور دي.

تر زېږېدو له مخه دې د مور تی راته له شیدو او د مور زړه راته له مینې او د مور ژوند دې زما په پلار تامین کړ.

غوره خواړه دې راکړل، چې په خورا ساده لار خپلې اړتیاوې پوره کړم.

ښنتنه! د دې پېرزوینو دې منندوی یم.

مل مې شه، چې له دې ټولو نعمتونو دې په ښه توګه ګټه وکړم، هېر دې نه کړم، له مورو پلار سره مې نېکي وکړم او لکه څنګه چې ته راته ښه ښنتن یې، زه دې هم ښه بنده ووسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوزېږي ته د مور د شيدو د ارزښت په باب قرآن کريم وايي: ((وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلاَدَهُنّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ وَعلى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنّ وَكِسْوَتُهُنّ بِالْمَعْرُوفِ[1]=او ميندې خپلو اولادونو ته پوره دوه کاله تی ورکوي. (دا حکم) هغه چا ته دی، چې غواړي د تي رودنې موده پوره کړي.))

پېغمبراکرم (ص) وايي: (( کوشني ته غوره خواړه د مور شيدې دي.[2]))

ديني عالمان هم وايي: که د مور روژه کېدل، ماشوم ته يې شيدو ورکولو ته تاوان رسوي؛ نو روژه پر مور فرض نه ده؛ ځکه د کوشني تغذيه کول د رمضان مياشت تر فرض روژې مهمه ده.

---

[1]. بقره/ ۲۳۳

[2]. عيون اخبار الرضا، دويم ټوک، ۳۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریمه زده کړه: د الله ځواک او حکمت

ټول مخلوقات، د الله د ځواک نښې دي. غر، بېديا ، سمندر ، ځمکه، لمر، سپوږمۍ او په آسمان کې ستوري؛ خو په مخلوقاتو کې ځنې يې ځانګړې ځانګړنې لري؛ د بېلګې په توګه: الله تعالی چې انسان وپنځاوه، سترګې يې له ځلېښښينو اوبو ورجوړې کړې، غوږونه يې له کورپاندوکيو او ژبه يې له غوښې. کوم ځواک کولای شي له ځلېښښينو اوبو ليدځواک، هډوکي ته اورېدځواک او غوښې ته ويناځواک ورکړي؟

د بشر جوړ کړي ډېرې څيزونه، څه موده روسته له کاره غورځېږي؛ خو د انسان د بدن غړي تر ډېرې مودې کار کوي.

د تاريخ په اوږدو کې ميلياردونه بشر پنځېدلي؛ خو په دې دومره انسانانو کې له پيله تر اوسه، ان د دوو انسانانو د ګوتو د سرنو کرښې هم سره يو شان نه دي، حال داچې ډېر تکړه هنرمندان له څو هنري آثارو ډېر آثار نه لري !

انسان له خاورې يوازې خښه، خښته، کاشي، سراميک او څه نور محدود توکي جوړولای شي، نور څه ترې نشي جوړولای؛ خو الله په يوه بڼ کې، له همدې خاورې، هم خوږه مېوه؛ لکه کجوره او توت او هم تروه مېوه؛ لکه ليمو او هم خوږه تروه مېوه؛ لکه انار او مالټه پنځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قرآن کریم کې لولو:

((او په ځمکه کې څنګ په څنګ پرتې ټوټې دي او (همداراز) د انګورو بڼونه، کښتونه او د کجورو ګډ بنستې او بېل بنستې ونې دي، چې په یوه ډول اوبو خړوبېږي ! او حال دا چې ځینو ته مو پر ځینو نورو د خوراک له پلوه غوراوی ورکړی، بېشکه په دې (چارو) کې هغو خلکو ته (څرګند) دلایل دي، چې عقل کاروي.[١]))

هو ! ځیني خلک مېوه یوازې نس ډکولو ته غواړي؛ خو هوښیاران د دې ټولو ښکلاوو او هېښتیاوو په لیدو سره د خپل ایمان اروا تازه کوي او د الله د ځواک نښې پکېویني؛ ځکه له یوه ډول اوبو او خاورو یوازې د یوه ډول خوند تمه کولای شو؛ خو د الله ځواک داسې دی، چې ډول ډول خوندونه، رنګونه او بڼې ترې پنځوي.

الله حکیم دی؛ یعنې ټولې چارې یې پر ځای، سمې او موخه لري او یو بې موخې چار هم نه کوي، ان هغه چارې چې زموږ له انده ترخې او کړوونکې دي، هرومرو دلیل ورته شته دی. د بېلګې په توګه: که انسان درد او رنځ نه احساساوه؛ نو یوځلې به یې بدن له کاره غورځېده؛ خو درد په بدن کې د خطر او رنځ اخطار او ښنه ده.

---

١. وَفِي الأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَى بِمَاء وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ فِي الأُكُلِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (رعد/۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دردونه او رنځونه انسانان درملو جوړولو او علمي پرمختګونو ته هڅوي او د درد او رنځ تر سيوري لاندې انسان د خپلې روغتيا په قدر پوهېږي.

دردونه پر دردېدونکي انسان د خپلوانو احساسات او عواطف رانرموي، رنځونه د انسان د تکبر او غرور کچه راټيټوي او له الله سره د انسان اړيکه پياوړې کوي او روغ وګړي فکر او اند ته اړباسي، چې د خپلې روغتيا په ګټه او قدر پوه شي.

يو ځل بيا دې کرښو ته پام وکړئ !

د الله ټولې چارې په خپل ځای کې عالمانه دي، روغتيا او رنځ يې زموږ د ودې لپاره ايښي دي.

که روغتيا ((توليد )) ده بروي، رنځوري ((ترحم )) ده بروي.

که روغتيا د ودې لامل ده، رنځوري الله ته د ورنږدېدو لامل ده.

هو ! الله ځواکمن ذات دی؛ خو د ځواک مانا دا نه ده، چې هر هغه څه وکړي، چې زموږ خوښه وي او يا يې ترې غواړو؛ بلکې الله خپل ځواک په هغه ځای کې کاروي، چې عالمانه او حکيمانه وي.

تاسې دا ځواک لرئ، چې خپل کميس څيرې کړئ؛ خو دا کار نه کوئ. الله يې ځواک لري، چې يو کس بې زده کړې، عالم کړي او د يوه بزګر له زحمت پرته، محصولات رامنځ ته کړي او بې درمل او ډاکټره، رنځور ته شفا ورکړي؛ خو دا کار نه کوي؛ ځکه چې حکيمانه چار نه دی؛ ځکه دا چار د اندونو، هڅو او اړيکو د ځوړ لاملېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه زده کړه: له الله سره اړیکه

تر الله پېژندو روسته مو لومړی دنده، له الله سره اړیکه ده او داچې د هغو نعمتونو په پار ورسره مینه ولرو، چې راکړي یې دي.

که څوک د عکاسۍ یوه کمره راډالۍ کړي؛ نو د ژوند تر پایه ورسره مینه کوو او نه یې هېروو. الله راته د عکاسۍ دوه پرمختللې کمرې راکړې دي. دوه ښکلې سترګې، چې ټول عمر پرې لرې، نږدې او له هر اړخه عکاسي کوو. یوه سپکه، کوچنۍ، ظریفه، ښکلې او په مناسب او کلک ځای کې ایښوول شوې کمره. الله دا دوه کمرې په دوو چوغړندو کې ایښې، چې په مناسبه توګه وساتل شي او بانه او وریزې یې پرې جوړې کړي، چې د بهرنیو توکیو او اضافي رڼا د ورننووتو مخه ونیسي.

دې کمرو له هومره کوشنیتوب سره، موږ له نړۍ سره په اړیکه کې کړي یو او موږ کولای شو د نړۍ هېښنتیا او ښکلاوې پرې ووینو.

دا کمرې زموږ او پوهانو ترمنځ، د هغوی د کتابونو د لوستو له لارې اړیکه جوړوي، له خطرو مو ساتي، د مطالعې له لارې مو پوهه ډېروي او په سترګو هر څه پېژندلی شو. هره ورځ په زرونو انځورونه اخلي؛ خو ستړتیا نه لري.

د ستر الله په هر نعمت کې چې فکر وکړو، له خپل پنځګر سره مو مینه ډېرېږي. دا مینه مو، له الله سره رومبۍ اړیکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله اړيکه، د لوراند الله مننه ده. که د يوې کمرې ډالۍ مننه غواړي؛ نو د سترګو په څېر ښکلې ډالۍ خو څو ګرايه مننه غواړي.

## د الله مننه په څه کې ده؟

د الله مننه په دې کې ده، چې سترګې پاکې وساتو. مخ په چټليو او بو و نه وينځو. په ډک نس مطالعه و نه کړو. که په يوه ځای کې بسيا رڼا نه وي او کوم کتاب چې توري يې واړه وي، مطالعه يې نه کړو، چې سترګې مو خرابې نشي. په سترګو ګناه و نه کړو او څوک و نه وېروو.

مور و پلار ته په مينه کتل عبادت دی. قرآن او کعبې ته کتل عبادت دی. ديني عالمانو او مشرانو ته کتل عبادت دی. د الله له نېکو بندګانو سره ليدل کتل عبادت دی او که مړه شوي دي، د قبرونو زيارت يې عبادت دی.

د (الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِينَ[1]) ويل ژبنۍ مننه ده؛ خو د مننو غوره ډول، لمونځ کول دي. قرآن کريم وايي: (فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ .الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ[2]= نو (ددې ستر نعمت په شکرانه کې) بايد ددې خونې (کعبې) پالونکی ولمانځي؛ هماغه (الله) چې له لوږې يې ماړه کړل او له وېرې او ناامنۍ يې (خوندي او ډاډمن کړل.))

لمونځ په ټولو آسماني اديانو کې و.

---

[1]. حمد/ دويم آيت

[2]. قريش ۳-۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله (ص) وويل: (( په هغه دين کې خير نشته، چې لمونځ پکې نه وي. ))

په رښتيا که لمونځ نه وي، نورې ښېګڼې چارسازې نه دي؛ لکه څنګه چې که ستنه نه وي؛ نو په تار ګنډل نه کېږي.

که ټرافيک پوليس له يوه موټر چلوونکي د چلولو لايسنس وغواړي او هغه يې و نه لري؛ نو ټرافيک پوليس يې دروي او جريمه کوي يې، ان که د پوهنتون لسانس او يا کوم بل مهارت هم ولري.

راځئ! هره ورځ د څو شېبو لپاره له خپل پنځګر الله سره خبرې وکړو. رښتيا!

له هر چا سره خبرې کوو؛ خو له الله سره خبرې نه کوو؟

موږ له الله سره مينه لرو او څوک چې له چا سره مينه لري، زړه يې ورسره خبرې کول غواړي.

دا چې موږ ټول انسان په منظمه توګه له الله سره خبرې وکړو؛ نو الله انسان ته لارښوونه کړې، چې ټول يوه لوري، مخ پر قبلې، له پاکو بدنونو او جامو سره، په روښانه زړه، په نږه نيت او په يوه ژبه لمونځ وکړو.

لکه څنګه چې د نړۍ د هر هېواد پيلوټ چې غواړي، د بل هېواد له هوايي ډګر سره اړيکه ټينګه کړي؛ نو په انګريزۍ ورسره خبرې کوي. موږ هم بايد خپل لمونځونه په عربۍ وکړو. هو! يوه ژبه، د الله لمانځو د يووالي نښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لمونځ به هغه مهال ډېر زموږ د ودې او پرمختګ لامل شي، چې د جومات په څېر په يوه سپېڅلي ځای او په خپل وخت په جمعا ترسره شي؛ خو په دې شرط، چې د لمانځه ترڅنګ د ښوونځيو لاسنيوی هم وکړو او په لمونځونو کې مو دعاوې هم ورته وکړو.

هغه چې لمونځ کوي، ته وا خپل لاسونه يې د الله په لاسونو کې ايښي او په يوه کلکه رسۍ يې منګولې لګولې دي او هغه به پر هره ستونزه لاسبرى شي، چې پر کلکه الهي رسۍ يې منګولې لګولي او خپل لاسونه يې د الهي ځواک په لاسونو کې ورکړي دي.

قرآن کريم وايي: (وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ[1] = او په صبر او لمانځه (له خدايه) مرسته وغواړئ)

چې رسول الله (ص) او امامان به له کومې ستونزې سره مخ شول؛ نو لمانځه ته يې پناه وروړه [يعنې سملاسي يې لمونځ کاوه] او له لمانځه او د الله له ذکره يې مرسته غوښته.

لمونځ دومره ارزښتمن دى، چې د عاشورا پر ورځ په کربلا کې، سره له دې چې امام حسين د دښمن تر غشيو او نېزو لاندې و؛ خو بيا يې هم لمونځ و نه ځنډاوه.

---

[1]. بقره/۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پینځمه زده کړه: لمونځ، د الله مننه ده

په هر ځای کې ټول انسانان دا خوی لري که چا مینه ورسره وکړه؛ نو مننه ترې کوي، ان یو کوشنی ماشوم، چې خبرې هم نشي کولای، که ډالۍ ورکړو؛ نو په موسکا مو مننه کوي. ان که له کوم ځاروي سره مینه وشي؛ نو د مینې ځرګندونې لپاره یو عمل ترسره کوي.

موږ وینو، چې ټوله هستي – که جماد دی که نبات او که حیوان- د ورکړې پر وړاندې راکړه لري؛ خاورې ته دې چې دانه ورکړه، بوټي او ونې درکوي، که اوبه او سره دې ورکړه، مېوه، لرګي او د ونې سیوری درکوي. ځاروي ته چې واښه ورکړې، شیدې درکوي، مرغانو ته چې دانه ورکړې، هګۍ درکوي او د دوی دا ورکړه یې طبیعي مننه شمېرل کېږي؛ نو ولې انسان له الله مننه نه کوي؟

چا راسره د الله هومره مینه کړې ده؟

چا راته تل ځلنده او وړیا لمر راکړی دی؟

الله رازده کړل، چې څنګه له اوبو، خاورې، بوټیو او ځارویو ګټنه وکړو. که ټول حیوانات وحشي ول او موږ نه شول کولای، چې ګټنه ترې وکړو؛ نو څومره ستونزې به مو درلودای؟

الله دومره پر موږ لوراند او لورین دی، چې یوې نېکۍ ته مو لس ثوابونه راکوي؛ خو که بد چار راځنې وشو؛ نو یوازې د هماغه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره حساب را سره کوي؛ نو آیا نه ښایي چې له داسې یوه مهربان او لوراند الله سره خبرې وکړو؟ هو ! لکه څنګه چې الله د قرآن له لارې له موږ سره خبرې کړې دي، موږ هم باید په لمانځه خبرې ورسره وکړو.

البته ټول خبر یو چې الله مو مننې ته اړمن نه دی او دا مننه زموږ په خپله ګټه ده. د بېلګې په توګه: که وایو چې کور مو مخ په لمر جوړ کړئ، په دې مانا نه ده، چې لمر مو کور ته اړتیا لري؛ بلکې مخ په لمر خونه زموږ په خپله ګټه ده. که ټول خلک مخ په لمر او یا مخ په سیوري کور جوړي کړي؛ نو پر لمر هېڅ اغېز نه کوي؛ خو که مخ په لمر مو خونه جوړه کړه؛ نو د لمر له رڼا او تودوخې به برخمن شوو او که مخ په سیوري خونه جوړه کړو ؛ نو د لمر له رڼا او تودوخې به بې برخې شوو.

لکه څنګه چې د زده کړیال درس ویل او د ښوونږ زده کړې ته یې پام او د پوهې زده کړه، له ښوونږ څخه مننه ده؛ خو ددې مننې ګټه زده کړیال ته رسي، نه ښوونږ ته.

د الله لمانځل زموږ په خپله ګټه دي.

که یوه کوشنی، خپل لاس یو مشر ته ورکړ؛ نو ځان پیاوړی بولي او ځان د هر ډول خطر پر وړاندې د هغه څواک له لامله خوندي بولي. لمونځ کوونکی، له الله سره په خبرو او د هغه په بندګۍ، ځان د هغه د پېرزو تر سیوري لاندې کوي؛ نو ځکه هېڅکله ځان یوازې او پردی نه بولي. دا حالت ان د الله د کور او جوماتونو لپاره هم دی. د بېلګې په توګه، هغوی چې جوماتیان دي، هېڅکله ځان یوازې نه مومي، ان

(c) ketabton.com: The Digital Library



که جومات يې له کوره په لرې سيمه کې وي، خلک جومات خپل ملاتړ او مل بولي. له هم جوماتيانو سره په آشنايۍ ځان له يوازېتوبه راباسي. جوماتيان ملګرو موندلو ته په ده او هغه پسې نه ځي؛ ځکه په جومات کې له هغو ايمانوالو وګړيو سره ملګري کېږي، چې د الله د خوښۍ لپاره، ټول پاک او په اودس کې، يوه لوري ته، د يوه امام جماعت په ټاکلو سره، بې له کومو تشريفاتو او امتيازه، په رورولۍ، يو د بل ترڅنګ، په يوه ژبه، د ايکي يو الله عبادت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږمه زده کړه: لمونځ

داچې مسافر په بېدیاوو کې ورک نشي او روغ رمټ خپل مقصد ته ورسي، دولت ورته لارې او واټونه ټاکلي او په هغو واټونو او لارو کې لوحې او نښې لګوي، ټرافیک پولیس یې ګومارلي دي، چې د موټرو ځغاسته وڅاري. که دا چارې نه کېدې؛ نو مسافرو به لارو ورکوله او هر څوک به یوې خوا ته تلل او ټول به په زحمت کې وو.

الله هم که د پېغمبرانو او اسماني مشرانو له لارې، د بندګۍ او لمانځه لار یې د انسانانو د ودې او کمال لپاره نه وه ټاکلې؛ نو هر څوک به یوې خوا ته ورتله او الله به یې هغسې لمانځه، چې څنګه یې پخپله غوښتل.

داچې ټول خلک په یوه نېغه او سمه لار ولاړ شي؛ نو د لمانځه لار یې له یو لړ نښو او احکامو سره راښوولې ده؛

لومړی: حکم یې کړی، چې په اودس او پاکوالي او د زړه له کومې له الله تعالی سره خبرې وکړو.

دویم: الله د لمانځه فرضونه په ۲۰ ټکیو کې ایښي، چې زده کړه یې ټولو ته آسانه وي. دا ټکي هم مانا لري، هم قالب او هم شرنګ.

دریم: حکم یې وکړ، چې ټول خلک دې یوه لوري ته لمونځ وکړي، چې زړونه او فکرونه خپاره واره نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم:** حکم یې وکړ، چې ټول خلک په یوه ژبه له الله سره خبرې وکړي؛ لکه څنګه چې د نړۍ د هر ګوټ پیلوټان، له هوایي ډګرونو سره یوازې په انګریزۍ ژبه اړیکه نیولی شي.

په لمانځه کې له پاکو جامو سره د کعبې پر لوري دریږو او په عربي ژبه له الله سره خبرې کوو.

د لمانځه لومړی ټکی (الله اکبر) دی؛ یعنې الله تر ټولو خورا ستر دی، تر اند او خیاله ستر دی، تر لیدنیو او اوریدنیو ستر. چاچې الله ستر وموند، هر څه ورکوشني شي. د فوټبال لوبې یو لوبغالی په پام کې ونیسئ، تر هغه چې په لوبغالي کې یو، د لوبغالي ځمکه راته خورا ستره ښکاري؛ خو که په الوتکه کې سپاره شوو او والوځو او له بره ورو ګورو؛ نو لوبغالی به راکوشنی شي او څومره چې الوتکه پورته ځي، ځمکه راکوشنۍ شي. انسان کولای شي دومره پورته والوځي، چې ټوله ځمکه ورته د یوه نخود هومره شي. هو! څومره مو چې پر الله ایمان ډېر شي او څومره چې الله ستر مومو، د نړۍ ستر ځواکونه مو په نظر کې کوشني کېږي.

په دعاوو کې هم لولو: (( داچې الله د مسلمانانو په زړونو کې ستر دی، نور څیزونه یې په نظر کې کوشني دي.[۱] ))

---

۱. بحارالانوار، **۷۴** ټوک، **۳۱۵** مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ديني مشر وويل: ((د زماني طاغوت زموږ هېڅ هم نشي کولای.))
ځکه هغه پر الله دومره ايمان درلود، چې طاغوت يې په سترګو کې
بېخي کوشنی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوومه زده کړه: الهي عدل (نیاو)

حضرت مولا علي کرم الله وجهه وویل: ((هر څه په خپل ځای کې اېښوولو ته او په غوره بڼه د هر کار ترسره کولو ته عدل وايي.[1]))

البته مهمه ده، په دې پوه شو، چې عدل په هر ځای کې د مساوات په مانا نه دی. عادل ښوونکی هغه نه دی، چې ټولو زده کړیالانو ته یو رنګ نمرې ورکړي؛ بلکې هغه ښوونکی عادل دی، چې هر زده کړیال ته یې خپلې نمرې ورکړي.

عادل ډاکټر هغه نه دی، چې ټولو رنځورانو ته یوه رنګ نسخه ولیکي؛ بلکې هغه طبیب عادل دی، چې هر رنځور ته یې د رنځ له مخې درمل ورکړي.

الله، عادل حکیم دی؛ یعنې عدل یې د حکمت پر بنسټ دی.

د الله عدل؛ یعنې دا چې الله د یوه ژوي حق هم نه لتاړي، له دې خو به تېر شو، چې یوه ژوي هم له پیله پر الله یو حق هم نه درلود، چې ولتاړل شي. موږ خو مخکې نه وو او نه مو څه درلودل، چې راځنې واخستل شي او یا تېری راباندې وشي.

---

[1]. نهج البلاغه، ۴۳۷ حکمت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارښاوي ته يوې ښېلګې ته پام وکړئ:

د ((ادب)) په ټکي کې ((الف)) ولاړ، ((دال)) کوږ او ((ب)) پرته ده؛ نو که دې توريو عقل او شعور درلوداى، پر ليکوال يې د نيوکې حق درلود؟ آيا ((الف)) حق درلود، چې پر ليکوال نيوکه وکړي، چې زه دې ولې پر پښو درولى يم او ((دال)) نيوکه وکړي، چې زما ملا دې کږه کړې او يا ((ب)) ووايي، چې زه د سملولې يم؟ نه ! هېڅکله نه ! ځکه دا توري له مخکې نه وو او موږ يې پوروړي هم نه يو. هوښيار او د موخې خاوند ليکوال دا توري يو د بل ترڅنګ ايښي او ددې په پامنيوي چې هر تورى يو غږ لري او له ګډونه يې د ((ادب)) ټکى جوړېږي.

په پنځونه کې هم يو جماد، يو نبات، يو ځاروى او يو يې انسان دى او څلور وانه ډلې يې په سلوګونو ښېلګې، بڼې، رنګونه او ځانګړى اغېز لري. عليم او حکيم الله دا مخلوقات وپنځول او د يوې سترې موخې لپاره يې يو د بل ترڅنګ کړل (لکه د ((ادب)) د ټکي په څېر) او داچې يو يې هم له مخکې موجود نه و؛ نو يو يې هم د نيوکې حق نه لري.

بله ښېلګه:

که يو ستره غالۍ په چاقو ټوټې ټوټې کړو؛ نو د غالۍ پر خاوند تېرى شوى دى؛ ځکه دې غالۍ له ځانه ستروالى درلود؛ خو که يوه سړي له پيله يو کوشنى ټغر اوبدلى وي؛ نو په دې بڼه کې کوم تېرى نه دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی؛ ځکه دې ټغر له مخکې کوم ستروالی نه درلود ، چې ستروالی مو ترې اخستی وي. پردې سربېره ، تېری خو به هغه مهال وي ، چې له ستر او کوشني ټغر نه مو يو شان تمه وي؛ خو که له هر څه ، په خپله اندازه تمه ولرو ؛ نو په دې بڼه کې تېری نه دی شوی. د بېلګې په توګه: که يو کس ته زر افغانۍ او بل ته لس زره افغانۍ ورکړو او ورته مو وويل چې بوره وپېره او دا دواړه په دې پيسو بوره وپېري. دلته د دواړو ثواب يو شان دی؛ ځکه دواړو يو شان پر خپله دنده عمل کړی دی. که يوه يې د بل په پرتله لږه بوره راوړې ، لنډون يې نه دی کړی؛ ځکه پيسې يې لږې وې.

تردې بېلګو روسته پوهېږو ، چې د الله د عدالت مانا دا نه ده ، چې ټول انسانان د اورلګيد او يا هم د صابون د قوطۍ په شان يو شان وي؛ بلکې همدا چې الله بېلابېل څيزونه پنځولي او له هر يوه يې مناسبه تمه درلودلې ، عادل دی.

څوک چې ډېر برخمن دی ، پازوالي يې هم ډېره ده؛ لکه که په يوه موټر کې مو ډېر تېل واچول؛ نو له هغه موټره د ډېر واټن وهلو او ډېر بار وړو تمه هم کېږي.

الله ټول مخلوقات په يو لړ حکيمانه توپيرونو پنځولي او هر موجود ته يې ، کمال ته د رسېدو لپاره مناسبه لار ټاکلې او خپل هر حکم ته يې ثواب يا عذاب ټاکلی او د يوه توکم او بل توکم او د يوه ټبر او بل ټبر او د يوه وګړي او بل وګړي ترمنځ يې هېڅ ډول تبعيض نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر انجينير، د ودانۍ د لاندېنيو پوړونو سيخ او اوسپنه ډېره اچوي او دا تېرى نه دى.

هر ښوونځى د زده كړيالانو د مهارت او د پوښتنو د ځواب پر بنسټ نمرې وركوي او دا تېرى نه دى.

د موټر جوړولو په فابريكه كې نټ او بولټ كوشني خو ټايرونه ستر جوړېږي او له هر يوه يې يوه تمه كېږي؛ خو دلته يو كس هم د فابريكې څښتن ته ظالم نشي ويلى.

په هستۍ كې توپيرونه، د الله د ځواک نښې دي؛ لكه څنګه چې الله تعالى په قرآن كريم كې وايي: ((وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ[1] = او (د ځواک) له نښو يې د اسمانونو او ځمكې پنځون او ستاسې د ژبو او رنګونو (توپير او) بېلابېلوالى دى.))

---

[1] روم/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتمه زده کړه: تولنيز نياو /عدل

الله پخپله عادل دی او موږ ته یې هم د نیاو (عدالت) او نېکیو حکم کړی دی، (إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ = په رښتينه کې الله د عدل او ښېګڼې کولو امر کوي.)[1]

که مور و پلار د خپلو اولادونو ترمنځ په عدالت چلن و نه کړي، اولاد يې خوابدېږي؛ که موږ هم په عدالت چلن و نه کړو، الله تعالی او خلک به راځنې خوابدي شي.

موږ بايد د هر چا حق رعايت کړو. که کوم ځوان په جومات کې ناست وي او له خپل ځايه پاڅول کېږي؛ نو ځوک چې د هغه پر ځای لمونځ وکړي، لمونځ يې سم نه دی؛ ځکه د ځوان پر حق يې ظلم کړی او پر داسې ځای ولاړ دی، چې حق يې نه و.

پېغمبر اکرم (ص) اوبه وڅښلې، يو ځوان يې ترڅنګ ناست و، له آنحضرت (ص) نه يې وغوښتل، چې پاتې اوبه د تبرک او شفا لپاره ورکړي، تردې غوښتنې روسته، هغه مشران، چې د پېغمبر اکرم (ص) تر څنګ ناست وو، هغوی هم ورته غوښتنه وکړه؛ نو آنحضرت (ص) ورته وويل: (( داچې دې ځوان تر تاسې مخکې غوښتنه کړې وه؛ نو وار بايد رعايت شي )) نو لومړی يې اوبه هغه ځوان ته ورکړې.

ژرنده که د پلار ده خو په وار ده. د وار رعايت کول، عدالت دی.

---

[1]. نحل /۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولا علي کرم الله وجهه یوه مورکۍ ولیده، چې دوه کوشنیان ورسره دي او یوازې درې کجورې لري، هر کوشني ته یې یوه کجوره ورکړه او دریمه کجوره یې پر منځ نیمه کړه، چې د ماشومانو ترمنځ پر عدالت چلن وکړي، آنحضرت دغه مور ددې عدالتي چلن لپاره وستایله.

بې اجازې د نورو له ماله ګټنه یې پر حق تېری او ظلم دی.

خلک بې پته کول، پر هغوی تېری کول دي.

بل ته ناسمه نامه اخستل او نامه یې سپکول، وهل ډبول او ان وېرول تېری دی.

تر ټاکلې اندازې ډېر د دولتي توکیو لګول، پر ټولنه تېری او ظلم دی.

پر خلکو تېری، نه بښنل کېدونې ګناه ده. ان که یو ځوان له یوې ونې بې اجازې مېوه وخوړه، باید د ونې څښتن راضي کړي او نشي ویلای: دا چې بالغ نه یم؛ نو غاړه مې نه بند ېږي.

هغه چې بالغ شوی نه دی، لمونځ او روژه پرې فرض نه ده؛ خو د خلکو د مال، ځان او پت درناوی پرې واجب دی، ان پر ژبیو.

په ټولنه کې د عدالت رعایتول له کورنۍ پیلېږي او په ټولنه کې د عدالت رعایتولو په پار باید یو د بل حقوق په کور، ښوونځي، واټونو او کوڅو کې رعایت کړو.

هو ! اسلام د حقوقو د رعایت په پار، نه اولاد ته اجازه ورکوي، چې د مورو پلار د استراحت مزاحم شي او نه مورو پلار ته اجازه ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پر اولاد بې ځایه غوسه شي. نابالغتوب او ژېیتوب، د نورو د حقوقو د نه‌رعایتولو پلمه‌نشي کېدای.

څرګنده شوه، چې ماشومان او ژبې باید تر ځوانۍ مخکې، له اسلامي اخلاقو سره آشنا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهمه زده کړه: د بشر لارښودان

الله په قرآن کريم کې وايي : هر امت ته يو پيغمبر دی. (وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ= او هر امت ته يو استازی دی)[1] الله هېڅکله خلک بې لارښوده او آسماني مشره نه دي پرېښي. (وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ=او هر قوم ته يو لارښود دی)[2]؛ يعنې په هر وخت او ځای کې باید خلک ژوندی لارښود ولري، چې دا ژوندی لارښود یا پیغمبر دی یا یې ځایناستی. باید سر مو خلاص وي، چې انبياء يوازې په يوه ځانګړې سيمه کې نه وو، چېرې چې امت و، يو لارښود هم ورته و. هغه الله چې پر خلکو لوراند او لورين دی، هېڅکله خلک بې لارښوده نه پرېږدي او هېڅکله ځمکه بې حجته نه پاتېږي.

که څه انسانان کله په اند، عقل او کله په پوهه او مطالعې او کله په مشوره او کله په احساس او وجدان او کله پخپله او د نورو په تجربه، کولای شي حق لار پیدا کړي؛ خو کله حق لارې پیدا کول دې اړتيا لري، چې له تېرو، اوسنيو او راتلونکيو انسانانو، همداراز د خپل ځان په باب پوهه ولري؛ خو دا پوهه يوازې د انسانانو له پنځګر ښتن سره ده او زموږ پوهه او تجربه نه ور رسي.

نو ځکه سره له دې چې انسانان له خپلې پوهې، عقل او تجربې ګټنه کوي، هر يو يې په خپل ژوند کې په سلونو ځل په خپلو کړنو

---

[1]. يونس/۴۷

[2].رعد/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښېمانېږي. د انسان پښېماني ددې چار څرګندوی ده، چې د انسان پوهه، عقل او تجربه نیمګړې ده. دا پښېماني له پخوا راهیسې وه، ده او وي به.

اوس چې مو د سر په سترګو د پرمختللیو او روسته پاتې هېوادونو د لوستو او نالوستو وګړیو تېروتنې او پښېمانۍ ولیدې؛ نو څرګندېږي، چې انسانان باید داسې لارښودان ولري، چې په کمالاتو کې تر نورو انسانانو غوره وي. په وجود کې یې تېروتنه، سرغړونه، پښېماني، ناپوهي، وېره او شک نه وي او په هر اړخیزه توګه خلک پرې ډاډمن وي او امین وګڼي وي.

الله ورته په کمالاتو، معجزاتو، د بیان په ځواک، پراخې سینې، صبر، پوهې او مړانې، پر نورو غوراوی ورکړی وي. خلک یې په لاسونو کې لاسونه ورکړي او د هغوی په لارښوونو خپل دنیا و آخرت ښېرازه کړي. دا لارښودان، اسماني پېغمبران دي.

یوازې پېغمبران نه پښېمانېږي؛ ځکه خبره یې د الله خبره ده او الله هېڅکله نه پښېمانېږي. پوهه یې د الله له پوهې ده او د الله پوهه راایساره نه ده او ناپایه ده.

انبیاء له خلکو څنې، له خلکو سره، په خلکو کې او د خلکو په څېر ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوڅو او بازارونوکې ګرځېدل؛ (وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ= په بازارونو کې ګرځېدل )[1] او هر حکم چې يې کاوه، لومړی يې پر خپل ځان پلي کول. په خلکو کې رښتين او امين ول او د خلکو د هدايت لپاره يې زحمتونه ګالل.

خلک يې خپل رونه ګڼل؛ (إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ= چې يې رور هود ورته وويل )[2] او چا ته يې اجازه نه ورکوله، چې په ستاينو يې غوړه مالي وکړي. ځانونه يې پخپل ورځني بشري ژوند کې، د ټولو خلکو په څېر ګڼل؛( قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ= ووايه: زه خو يوازې ستاسې په څېر يو بشر يم )[3]

ټولو انبياوو يوه موخه او دنده درلوده، چې الله لمانځنې ته د خلکو رابلل، د سرغړوونکيو او ظالمانو او د خرافاتو(کړنو او انګېرنو ) له لاروی د خلکو ژغورل او د هغو دودونو له منځه وړل، چې له عقل سره سمون نه لري.( وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ= او په رښتيا موږ هر امت ته يو استازی ورلېږلی (چې ووايي) "الله" ولمانځئ او له "طاغوت" نه ځان وژغورئ ؛ )[4]

ټولو انبياوو خلکو ته د عبادت او لمونځ سپارښتنه کوله. قرآن کريم د حضرت ابراهيم (ع) له خولې وايي: (رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصَّلاَةَ=

---

[1]. فرقان/۲۰

[2]. شعراء/۱۲۴

[3]. کهف/۱۱۰

[4]. نحل/ ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالونکیه ! ما په یوه بې اوبو او بې کښته ناو کې د خپل اولاد یوه برخه، ستا د قدرمن کور ترڅنګ مېشت کړه، چې لمونځ وکړي؛)[1]

الله حضرت موسی (ع) ته وايي: (وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي= و مې لمانځه او یادښت ته مې لمونځ کوه.)[2]

حضرت عیسی (ع) وايي: (وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ= الله د لمانځه سپارښتنه راته کړې)[3]

نو د ټولو انبیاوو یوه ګډه کړلار دا وه، چې په لمانځه، خلک د الله عبادت ته راوبلي.

که الله انسانان بې پېغمبره سرایله پرېښي ول؛ نو هر انسان به د خپلې سلیقې او د پوهې د څومره والي له مخې، ځان ته یوه لار ټاکله او په دې لار کې به د ظالمانو دباوونو، هره ورځ وسوسو او خیالونو یوې لوري ته راکاږل. هره ورځ انسان پر یوه لار ځي او په سبا یې پښېمانه وي. نن له یوه سره ملګری شي او سبا ورسره وران وي. نن یوه ورځ غوره ګڼي او سبا یې یوه بله. الله هېڅکله انسان داسې پر خپل حال نه پرېږدي.

---

۱. ابراهیم/۳۷
۲. طه/۱۴
۳. مریم/۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله په قرآن کې وايي: (وَمَا قَدَرُواْ اللّهَ حَقّ قَدْرِهِ إِذْ قَالُواْ مَا أَنزَلَ اللّهُ عَلَى بَشَرٍ مِّن شَيْءٍ= او هغوی الله سم و نه پېژانده، چې و یې ویل: ((الله پر هېڅ بشر کوم څیز نازل کړی نه دی.)))[1]

آیا شونې ده، الله هغه انسان، پر خپل حال سرایله پرېږدي، چې د هستۍ غوره مخلوق دی او سپین لمنی لارښود ور وا نه ستوي؟ هېڅکله داسې نه ده.

الله په قرآن کریم کې وایي: (إِنّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى= په یقین، [د بندګانو] لارښوونه یوازې زموږ (پر غاړه) ده، )[2] لنډه دا چې انسان د هستۍ تر ټولو غوره موجود دی؛ یعنې له جماداتو، نباتاتو او څارویو غوره او هر څه یې ګټنې ته پنځول شوي دي. که الله په پېغمبرانو بشر ته لارښوونه و نه کړي، هر څه به تویېي ولاړ شي. لکه که د یوه ښوونځي مدیر، چې ټولګي ته ښوونکي و نه ټاکي او زده کړیالان پر خپل حال پرېږدي؛ نو د ښوونې او روزنې وزارت ټوله بودجه به تویه ولاړه شي. نړۍ ښوونځی دی، چې انسانان یې زده کړیالان او انبیاء یې ښوونکي دي؛ خو داسې ښوونکي، چې پر هر څه پوهېږي، هېڅکله ګناه نه کوي، د الله غوره بندګي کوي، پر خلکو زړه سواند دي، پر ځان د بشر لارښوونې ته هر ډول کړ ښمني، له هېچا د هېڅ لاسباړې تمه هم نه

---

[1]. انعام/۹۱

[2].لیل/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري؛ (قُلْ لاَّ أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا = ووايه: ((چې زه (د دې رسالت) څه اجر (او لاسباړه) درځنې نه غواړم، )[1]

د الهي احکامو په پلي کولو کې مخکښ دي، په خپله بلنه کې څوک نه مجبوروي؛ بلکې په استدلال/سول او نرم خوی بلنه ورکوي.

پېغمبران هم خلک د اخروي نړۍ جنت او د دنيا نېکمرغۍ ته رابولي او هم خلکو ته د هغوی د سرغړونو په باب ګواښنګري کوي.

هغوی چې په انبياوو پسې ورځي؛ نو پر نېغه، بې خطره، بې تېروتنې او هيله ښناندي لار به تللي وي؛ خو هغوی چې له پېغمبرانو خپله لار بېله کړې؛ نو هره ورځ يې بهرني ظالمان وسوسې، خيالونه او دننۍ هيلې، دودونه او تېريز او سيمه ايز تعصبات، هرې خوا ته راکاږي او دنيا و آخرت يې تباه کوي.

نو راځئ، هغسې چې الله پر پېغمبرانو سلام کوي، موږ ورته سلام وکړو:

سَلَامٌ عَلَى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ = په نړيوالو کې دې پر نوح سلام وي[2].

(سَلَامٌ عَلَى إِبْرَاهِيمَ = پر ابراهيم سلام!)[3].

(سَلَامٌ عَلَى مُوسَى وَهَارُونَ = سلام پر موسی او هارون!)[4].

---

[1]. انعام/۹۰
[2]. صافات/۷۹
[3]. صافات/۱۰۹
[4]. صافات/۱۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سَلَامٌ عَلَى إِلْ يَاسِينَ = سلام دې وي پر الياسين !)[1]

او په پای کې، د اسلام پر پېغمبر هم هغسې سلام کوو ؛ لکه په لمانځه کې چې پرې کېږي:

((السلام علیک ایها النبی و رحمه الله وبرکاته )).

[1] صافات/۱۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسمه زده کړه: د رسول الله (ص) اخلاق

الله په قرآن کريم کې وايي: ((وَاِنّکَ لَعَلی خُلُقٍ عَظِیمٍ[۱]= او په رښتيا ته ستر خويونه لرې.))

مولا علي کرم الله وجهه وايي:

(( ښه خوی هغه دی، چې که خپلو غوښتنو ته ورسېدې، راضي ووسې او که ور و نه رسېدې، غوسه نشې. ښه خوی هغه دی، چې له خلکو سره په چلن کې کينه و نه لرې او د هغوی په تريو تندي، ته هم خپل تندی تريو نه کړې او له همده سره بيا مړی ژوندی او تګ راتګ هم ولرې، که څه هغه ستا په خبر نه وي او هغه وښنې، چې تېری يې درباندې کړی وي.))

امام حسن وايي:

((ښه خوی د هر ښه کار پيلامه ده.))

امام صادق وايي:

((لکه څنګه چې د لمر تودوخه چتلۍ (ميکروبونه) له منځه وړي، ښه خوی د انسان تېروتنې له منځه وړي. ))

---

۱. قلم/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه خوی هغه دی، چې انسان يې تل او ټولو ته وکاروي. د بېلګې په توګه: ټولو ته سلام او درناوی وکړي.

نو هغه چې يوازې خپل ښووند ته سلام کوي او درناوی يې کوي؛ نو دې کار ته يې ښه خوی نه ويل کېږي.

رسول الله (ص) ان پر ماشومانو هم سلام کاوه. ماشومانو ته به يې خپله نامه اخسته. له عادي وګړيو سره يې مشوره کوله، دعا يې ورته کوله او د دوی لاسنيوی يې کاوه.

په يوه سفر کې د سفر ملګرو غوښتل، خواړه چمتو کړي او هر يوه يې يوه دنده پر غاړه واخسته. رسول الله (ص) وويل: زه خوړو چمتو کولو ته د اور بلولو خس راوړم. ملګرو يې وويل: موږ به دې پر ځای کار وکړو. آنحضرت (ص) و نه منله او و يې ويل: که غواړئ، چې خواړه درسره وخورم؛ نو زه هم بايد په دې چار کې ونډه ولرم.

زموږ ګران پيغمبر له بېوزليو سره يوه دسترخوان ته کېناسته، روغبړ يې ورسره کاوه، ان که چا به يوه کجوره هم ورکوله، منله به يې او تل موسکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوولسمه زده کړه: له رسول الله (ص) او کورنۍ يې سره مينه

انسان هغه ته ورلېوالېږي، چې مينه يې ترې ليدلې وي او څومره چې نېکۍ ډېرې او غوره وي، هومره مينه هم ورسره ډېرېږي.

اوس ګورو، چې چا راسره ډېره مينه او پېرزو کړې ده، چې سم يې وپېژنو او مينه ورسره وکړو او په لاروۍ يې ملاتړ شو.

تر الله روسته، چې پنځولي يې يو او د روغتيا، پوهې، اند، عقل او هوښيارۍ نعمتونه يې راکړي، له څمکې، هوا، بوټيو او څارويو د ګټې اجازه يې راکړې، هېڅا هم د رسول الله او د هغه د ځايناستيو هومره مور ته چوپړ نه دی کړی.

د هغو پوهو او علومو په پار، چې د الله له لوري يې رازده کړي دي، پر مور هم د ښوونې او هم د روزنې حق لري؛ ځکه په خويونو، صبر، مړانه او تقوا کې راته بېلګه دي او هم يې له راتلونکي خبر کړي يو.

که مورو پلار راباندې د کور، کالي او ډوډۍ په پار حق لري؛ نو رسول الله (ص) او اهلبيت يې راباندې د ښيون، تقوا او اخلاقو په پار ډېر حق لري؛ ځکه د هستوګنې په ځای، اغوستن او خوړو کې انسان له حيواناتو سره يو شان دی؛ هغوی هم يو ډول د هستوګنځی، اغوستن او خواړه لري؛ خو انسان د ښيون، ودې او تقوا درلودو په پار پر حيواناتو غوراوی لري او دا غوراوی مو د اسماني مشرانو د لارښوونې له لامله دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی چې له الهي مشرانو خپله لار بېله کړې، که څه په علم او صنعت کې پرمختللي وي؛ خو علم او صنعت يې د بشر د ژغورنې لامل شوی نه دی. نن لو ديزه نړۍ په صنعت کې پرمختللې؛ خو په دې صنعت پر نوره نړۍ بد معاشي کوي؛ ځکه له تقوا او اخلاقو لرې شوې دي.

ټول امامان شهيدان شوي ، چې رازده کړي: (( تر روستۍ سلګۍ به ظلم او تېري ته غاړه کېنږدو ))

ساده ژوند يې درلود ، چې رازده کړي: ((له اسراف او تجملاتو ځان لرې وساتو ))

د الله عبادت يې کاوه، چې ((د بندګۍ دود او لار رازده کړي. ))

هغوی په خپل عمل، عدالت- نياو او تقوا رازده کړه، چې انسان د نااهلو له بېلګه کولو وژغوري.

رسول الله (ص) وويل:

(( زه او علي د ددې امت پلرونه يو.[1] ))

که پلار مو د بدن په فکر کې دی، الهي مشران مو د بدن او روح په فکر کې دي.

په يوه حديث کې راغلي دي:

(( ښوونکی هم د انسان پلار دی. ))

---

[1]. بحارالانوار، ۱۲ ټوک، ۳۲۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه قرآن کریم کې لولو:

((حضرت ابراهیم د خلکو پلار دی.[1]))

الله په الهي مشرانو، خلکو ته خپل نعمتونه رااستوي، موږ یې هم باید له زحمتونو خبر وو سو، ورسره مینه وکړو، زیارت ته یې ورشو او د احکامو لاروي یې وکړو؛ ځکه د دوی احکام د الله احکام دي او لاروي یې له الله لاروي ده او سرغړونه ترې، له الله سرغړونه ده.

---

[1]. حج/۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسمه زده کړه: نبوي کورنۍ (اهلبيت)

لکه څنګه چې کتاب او ښوونکي دواړو ته اړتيا ده؛ قرآن او امام دواړو ته اړتيا ده.

رسول الله (ص) څو ځل ويلي دي : (( زه په تاسې کې دوه ګرانبيه څيزونه پرېږدم او ځم؛ يو يې قرآن (چې د ژوند قانون دی) او بل يې اهلبيت (چې د دې کتاب ښوونکي دي). ))

بيا يې وويل: (( قرآن او اهلبيت مې له يو له بله بېل نه دي، دا دواړه يو د بل ترڅنګ تل ښيونوزلې دي.[1] ))

په دې زده کړه کې له نبوي کورنۍ سره، چې الهي مشران دي، پېژندګلوی پيدا کوو.

لکه څنګه چې رسول الله (ص) او قرآن د الله تعالی له لوري دی؛ نو د قرآن ښوونکي هم بايد د الله تعالی له لوري وټاکل شي، چې د دوی ترمنځ بېلتون رانشي.

الهي مشر (امام) بايد د قرآن بېلګه وي. امام رضا وايي: (( زموږ د ټولو خبرو سرچينه قرآن دی. ))

---

[1]. وسايل، ۲۷ ټوک، ۳۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## علي (ک)

د نبوي کورنۍ د امامانو لومړی یې حضرت علي کرم الله وجهه دی، چې څو ځل د رسول الله له لوري خلکو ته وروپېژندل شوی او د ژوند په پای کې چې کله له حج څخه راستنېده؛ نو د الله په حکم یې په یوه پرتمینه غونډه کې، د ماسپښین تر لمانځه روسته، په خم غدیر کې په یوه وینا کې ټولو ته وروپېژنده.

علي کرم الله وجهه د قرآن هینداره ده؛ که په قرآن کې د لمانځه او عبادت حکم شوی ؛ نو خورا غوره لمونځ او عبادت به هغه کوه، هغه په لمانځه نه ستړی کېده؛ لکه څنګه چې کب په لامبو نه ستړی کېږي.

که قرآن پلار مړیو ته د درناوي حکم کوي، آنحضرت د پلار مړیو پلار و او پخپله یې خواره ورورل.

که قرآن د علم سپارښتنه کوي؛ نو د آنحضرت پوهه دومره وه، چې پخپله یې ویل: ((څه چې پوښتئ، ځواب یې لرم[1].))

که قرآن د کار و کوښښ سپارښتنه کوي، هغه د کجورو بڼونه جوړ کړل.

---

[1]. ژباړن: د پښتو غزل بابا ؛ امیرحمزه خان شینواری وایي: ((ښار یې دی احمد علي دی باب د علم     لمر محمد دی، علي مهتاب د علم))

(c) ketabton.com: The Digital Library



که قرآن د مړانې سپارښتنه کوي؛ نو حضرت علي له سترو کفارو سره په جګړه کې داسې توره وهلې، چې توره وهل یې د ټولو عبادت کوونکیو تر عبادته غوره ګڼل شوې ده.[1]

حضرت علي په کورني ژوند، اولاد روزنه او د مظلومانو په لاسنیوي کې تر رسول الله (ص) روسته ساری نه درلود.

همدا چې رسول الله (ص) امامت ته وټاکه، خلکو مبارکي ورکړه او په ځانګړیو مراسمو یې ورسره د وفادارۍ ژمنه وکړه. نه یوازې په ژوند کې؛ بلکې ان په شهادت یې ټولې ښېګڼې ځان ته ځانګړې کړې وې؛ د بېلګې په توګه: په خورا غوره ورځو (رمضان میاشت)، په خورا غوره شپو (د قدر شپې)، په خورا غوره ځای (د جومات محراب) په خورا غوره عبادت (لمونځ)، په خورا غوره حالت (سجده) کې یې په شهادت ځان الله ته وروسپاره.

---

1. بحارالانوار، ۳۹ ټوک، ۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بي بي فاطمة زهرا

حضرت علي کرم الله وجهه د اسې ځانګړني لري، چې بل يو څوک يې هم نه لري؛ لکه: د فاطمه الزهرا په څېر کورودانې لري، چې د فاطمه الزهرا مقام ته يوه ښځه هم نه ور رسي؛ نو مناسبه به وي، چې د حضرت فاطمه د مقام په باب يو څه ووايو:

کومه ناوې په خپله ورا کې د خپل واده جامې بېوزلې ته ورډالۍ کوي او وايي: ((لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ[1] = له سره به د نېکۍ (حقيقت) ته و نه رسئ؛ چې درته ګران څيزونه مو (د خدای په لار کې) لګولي نه وي)).

حضرت فاطمې د اسې د خپل پلار پالنه کوله، ته وا مور يې ده، نه لور يې. چې کفارو به يې د پلار سپکاوی وکړ او خپه به يې کړ؛ نو د يوې مهربانې مور په څېر به يې خپل پلار دلاسه کاوه، چې رسول الله(ص) ورته ويل ((فداها ابوها[2])) يعنې ((پلار دې له دې اولاده ځار شي.))

حضرت فاطمه دومره زړه سواندې وه، چې زوی يې امام حسن وايي: مور به مې ټوله شپه نورو ته دعاوې کولې. ورته مې وويل: مورې!

---

[1]. آل عمران/۹۲ آيت.
[2]. بحارالانوار، ۴۳ ټوک، ۸۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې ځان ته دعا نه کوې؟ و یې ویل: (( الجار ثم لدار[۱] )) لومړی ګاونډی بیا د کور خلک؛ یعنې لومړی نور او بیا ځان.[۲]

حضرت فاطمه هغه ښځه ده، چې زوی یې امام حسین په کربلا کې وویل: زه زور ته غاړه نه ږدم؛ ځکه د فاطمه الزهرا زوی یم.

داسې لور یې روزلې وه، چې په ویناوو یې د امویانو د پاچاهۍ ستنې یې ولړزولې.

حضرت فاطمه مېرمنو ته د زده کړې ځانګړې ټولګی درلود. له خپلې چوپړیالې ((فضه)) سره یې په ګډه کارونه کول. له مېړه یې هېڅکله بې ځایه غوښتنه و نه کړه. د اسلام لپاره مدینې ته مهاجره شوه. په خندق او احد غزاګانو کې د مسلمانانو او خپل پلار ملاتړې وه. د خپل روژه ماتي خواړه یې ((پلارمړي))، ((مسکین)) او ((بندیوان)) ته ورکړل. په نبوي جومات کې په وینا یې له خپل امام نه دفاع وکړه.

نه د فاطمې، له علي پرته بل څوک مېړه کېدای شو او نه علي ته له فاطمې پرته بل څوک کورودانېدای شوه. که حضرت مریم د یوه عیسی مور وه؛ خو حضرت فاطمه د ۱۱ عیسی وو مور وه. حضرت فاطمه حجاب ته خورا ارزښت ورکاوه.

---

۱. وسایل/ اووم ټوک، ۱۱۲ مخ.

۲. ژباړن: دا خبره زموږ د خلکو د هغه ناسمې خبرې اپوټه ده، چې وايي: (( اول ځان دې بیا جهان دی )).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسمه زده کړه: امام حسن او امام حسین (حسنین)

داچې انسان تل لارښود ته اړمن دی، (لکه اوبو، خوړو او هوا ته چې اړمن دی) امامت او مشري د یوه ځانګړي وخت لپاره نه ده؛ بلکې د لمر په څېر تل د هدایت او ښیون په وړانګو عقلونه او اندونه رڼا کوي.

امام حسن د نبوي کورنۍ د امامانو د لړۍ دویم امام دی، پر رمضان میاشت کې، د هجرت پر دریم کال وزیږېد؛ نیکه یې په غوږ کې ورته اذان وکړ او عقیقه یې ورکړه.

په کوشنیتوب کې یې د قرآن آیتونه او د خپل نیکه ویناوې اورېدې او په کور کې به یې مور ته ویلې او هر مهال چې حضرت علي، حضرت فاطمه پوښتله: ((دا آیتونه دې له کومه اورېدلي؟)) ویل یې: ((له حسن نه مې اورېدلي دي.))

امام حسن ډېر متواضع او مخ ماتی و. یوه ورځ یوه ډله ماشومانو، چې یو ازې وچه ډوډۍ یې درلوده، امام حسن مېلمه کړ. آنحضرت هم ومنله او بیا امام حسن هغوی مېلمانه کړل. چې چا به ورسره ناوړه چلن وکړ، سینه یې ورته پراخوله. یوه ورځ یو شامي سړي د امام حسن سپکاوی وکړ او و یې کنځه، امام چوپ پاتې شو او چې کله پوه شو، چې هغه د نشتمنۍ او بېوزلۍ له لامله تنګلاسی دی، و یې ویل: ((که لار دې ورکه کړې، چې لارښوونه دې وکړم، که وږی یې، چې موړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کړم او که اړتیا لرې، چې درپوره يې کړم؟)) سړي په خپجلتيا وويل: ((الله تعالی په خپله ښه پوهېږي، چې څوک امام وټاکي.))

امام حسين د نبوي کورنۍ د امامانو د لړۍ دریيم امام دی، د دریيم هجري کال، شعبان میاشت په دریيمه نېټه زیږېدلی دی.

نیکه يې ورته په ښي غوږ کې اذان او په کیڼ کې يې ورته اقامه وويله. د وحې پرښتې ورته الهي پيغام راووړ، چې نامه يې حسين ده. نیکه يې د زوکړې پر اوومه ورځ پسه حلال کړ او د پسه غوښه او سپین زر يې پر بېوزلیو ووېشل.

سلمان فارسي (رض) وايي:

رسول الله (ص) به امام حسين پر خپل زنګانه کېناوه، ویل يې: ((ته امام، د امام زوی او امامانو پلار يې. نهه تنه امامان ستا له څوځاته دي، چې روستی يې قایم دی.))

امام حسين، چې کوشنی و، رسول الله (ص) په غېږ کې رانیوه، ښکلاوه يې، ویل يې:

((حسين مني و انا من حسين[1] = حسين له ما څخه او زه له حسين څخه يم.))

په کوفه کې وچکالي وه، خلک حضرت علي کرم الله وجهه ته ورغلل او له وچکالۍ يې سر وټکاوه. آنحضرت خپل زوی امام حسين ته

[1]. بحارالانوار، ۴۳ ټوک، ۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: ((پاڅه او دعا وکړه. )) امام حسین پاڅېد ، الله یې وستایه او پر رسول الله (ص) یې تر درود روسته د ورښت دعا وکړه. د امام حسین د دعا له پای ته رسېدو سره سم، وريځې راپیدا شوې او ورښت وشو.

په صفین جګړه کې د حضرت علي کرم الله وجهه لښکر تږی شو ، ځینې په اوبو پسې ولاړل؛ خو تش لاس راستانه شول. امام حسین له خپل پلاره په اجازې په اوبو پسې ولاړ او را یې وړې. حضرت علي په ژړا شو ، وپوښتل شو: ولې ژاړې؟ و یې ویل: همدا کس چې نن یې مسلمانان خړوب کړل، په راتلونکي کې به په کربلا کې د اوبو ترڅنګ تږی شهید شي.

امام حسین د امام حسن د امامت او مشرۍ په پېر کې وویل:

(( امام حسن مې رور او امام دی او زه یې لاروی یم. ))

امام حسین یو وخت د خپل نیکه پر اوږو سپور ګرځېده او یو وخت په کربلا کې د اسونو تر پښو لاندې ولتاړل شو ؛ خو مهمه داده ، چې په دواړه حالتونو کې له الله خوښ و او ویل یې: (( الهی رضا برضاک ))

امام حسین چې کوشنی و او نیکه یې د اختر لمانځه ته تله؛ نو له ځان سره یې بو تله او له رسول الله (ص) سره یو ځای یې تکبیر (( الله اکبر )) وایه. په کوم ځای کې چې په کاروه ، رسول الله (ص) چا ته ښبراوې او مباهله ورسره وکړې؛ نو هلته هم حسین ورسره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيمه شپه وه ، امام حسن له خوبه راپاڅېد ، او به يې وغوښتې ، پر هغه شپه رسول الله (ص) د فاطمه الزهرا په کور کې مېلمه و ، راپاڅېد او دې ماشوم ته يې او به راوړې. په همدې ترڅ کې امام حسين هم راويښ شو او او به يې وغوښتې ؛ خو آنحضرت (ص) لومړی او به امام حسن ته ورکړې. فاطمې بي بي وپوښتل : حسن درباندې ډېر ګران دی؟ رسول الله (ص) وويل: (( دواړه راته يو شان دي؛ خو وار د حسن و ، او به لومړی هغه غوښتې وې. ))

امام حسين د ظالم حکومت پر وړاندې په مړانه ودرېد او چمتو شو ، چې پخپله ، ملګري يې ، ان تی روی نوزېږی يې شهيدان شي ؛ خو ظلم او ظالم ته يې غاړه کېنښوله او ټولو انسانانو ته يې وښووله چې: ((عزت ، د حق پر لار په تنګ کې دی او د حق په لار کې شهادت ، د باطل په لار کې تر ژونده غوره دی. ))

ان په کربلا کې ځوانانو ؛ حضرت قاسم وويل : (( که داسې وي ، چې ځواک او واک له امويانو سره وي ؛ نو ما ته مرګ تر شاتو خوږ دی. ))

هو ! ژوند هغه مهال خوږ دی ، چې مشر ، قانون او اخلاق الهي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوارلسمه زده کړه: خپره شوې لورنه (امام مهدي)

(( بسم الله الرحمن الرحيم )) آيت يوسل و څورالس ځل په قرآن کې بيا ځلي شوی دی- يوسل و دريالس ځل د سورتونو په پيل کې او يو ځل د نمل سورت په آيتونو کې- يوازې په دې آيتونو کې **۲۲۸** ځل د لورنې په ځانګړنې ستايل شوی دی. پردې سربېره، په نورو آيتونو کې الله ډېری ځل په دې ځانګړنه ستايل شوی دی.

ددې آيتونو له ټولګي، دا مهم او ټوليز آر راڅرګند يږي: ((د انسان او نړۍ د پنځون بنسټ لورنه ده)) ؛ نو په هر ځای کې بايد ددې آر په لټه کې وو سو.

### د رسول الله په بعثت کې د الله لورنه

الله په قرآن کې رسول الله ته وايي : ((وَمَا أَرْسَلْنَاکَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ[1]= او ته مو نړيوالو ته يوازې رحمت لېږلی يې. ))

الله تعالی د اسلام پېغمبر او نور پېغمبران ځکه مبعوث کړي، چې انسانان له خپلې لورنې برخمن کړي.

د آنحضرت (ص) اوصياء او ځايناستي هم، د رسول الله لارې ته دوام ورکوونکي دي. د نبوي کورنۍ د امامانو د لړۍ دولسم امام؛ حضرت مهدي هم ټولو انسانانو ته د پالونکي د پراخه لورنې يوه وړانګه ده.

---

[1]. انبياء/ ۱۰۷آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ((آل یاسین)) زیارت کې چې د امام مهدی په باب دی، لولو: ((والرحمه الواسعه[1]))، سلام دې پر تا وي .... ای د پالونکي پراخه لورنې.

حضرت جابر (رض) له رسول الله (ص) نه روایت رانقل کړی، چې امام مهدي پکې په ((رحمة للعالمین)) یاد شوی دی.[2]

هو ! هغه امام دی او پر ځمکه د الهي لورنې او پېرزو پلي کولو ته د الله زېرمه ده.

رسول الله (ص) د امام مهدي په باب وايي:

((تاسې ته د مهدي زېری درکوم، هغه به زما په امت کې مبعوث شي، هغه مهال چې خلک یو له بل سره ډېر اړېپېچ لري او هېڅ به کوټلي نه وي او ټيکاو به نه لري، هغه به ځمکه له عدل او نیاو ډکه کړي؛ لکه څنګه چې له ظلم او تېري ډکه شوې ده. اسمان مېشتي او ځمکمېشتي به ترې خوښ شي، شتمني به په سمه توګه پر خلکو وویشي.))

یو سړي وپوښتل: رسول الله ! د شتمنۍ د سم ویش څه مانا ده؟

آنحضرت (ص) وویل: ((یعنې په عدالت به شتمني پر خلکو ویشي.[3]))

---

[1]. بحارالانوار، ۵۲ ټوک، ۱۷۱ مخ.
[2]، کلینی، محمد بن یعقوب، الکافي، لومړی ټوک، ۵۲۷ مخ.
[3]. کشف الغمه/ دویم ټوک، ۵۷۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداراز امام مهدي په ((غيبت صغرى ) ) کې په يوه ليک کې خپل يوه ځانګړي ملګري ته ليکلي دي: (( زه د ځمکمېشتو د هوساينې لامل يم.[1] ) )

هو ! امام مهدي ځمکمېشتو ته د الهي لورنې او پېرزو يوه وړانګه ده او که د جګړې او تورې خبره يې هم کېږي؛ نو دا چار يې هغه ظالمانو او سرغړاندو ته دی، چې د الهي لورنې د پلي کېدو پر لار خنډ دي.

[1]. کتاب الغيبه، شيخ طوسي، ۲۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پینځلسمه زده کړه: اخروي نړۍ

شاوخوا ته چې ګورو ؛ نو ترسترګو کېږي، چې هر څه په خپل ځای کې اینبوول شوي دي. که ماشوم ببوسې دی؛ نو مورو پلار د هغه مینې له کبله چې ورسره لري، پالنه یې کوي او ټولې ستونزې یې ورهواروي. توکانې ترخې یا تروې نه دي، چې و مو نه کړوي او اونبکه تروه ده، چې سترګه وساتي.

الله د لاس پر ګوتو ډېر پوټکی اینبی، چې په راکتولو کې ستونزه و نه لري، زنګون یې هم داسې پنځولې، چې راکت کړای شي. د سترګو وریځې، بانه، ګاټې او کاسه، ګردسره داسې پنځول شوي، چې سترګه مو خوندي وي. شونډې مو نرمې دي، چې په اسانۍ خبره وکولای شو او د خوړو پر مهال خواړه له خولې راتویې نشي. له ځمکې سره د لمر واټن یې داسې اوډون کړی، چې و مو نه سوزوي. خاوره یې راته وړیا چاڼخونه ګرځولې، چې چټلۍ اوبه ورننوځي؛ خو رنې او پاکې ترې راووځي، هر څه ته چې ګورو، د الله تعالی ځواک او واک پکې وینو؛ نو آیا شونې ده، چې هغه الله چې زموږ بدن او په ټوله نړۍ کې یې دومره ښکلا، هنر، صنعت او حکمتونه اینبي، تر څه مودې روسته، د انسان په مړینې سره، هر څه ته د پای ټکی کېږدي؟

آیا له ځان سره ویلای شو، چې انسان نوزېږي، ژبې، ځوان، پوخ منګی، ورپسې بوډا او په مړینه یې دوسیه وتړل شي او هر څه یې پای ته ورسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې ببلګې ته پام وکړئ:

که یو څوک ډېرو خلکو ته مېلمستیا وکړي او پر دسترخوان په خورا نظم ډول ډول خواړه، څښاک، سبزیانې او مېوې کېږدي؛ په مېلمستون کې یې ښکلا ته ډول ډول پردې او څراغونه راځړولي وي؛ خو مېلمانه یو بل ته د درناوي پر ځای پر یو بل یرغل وکړي، یو د بل حق تر پښو لاندې او ولتاړي او تر څه مودې روسته، شخړه پای ته ورسي، دسترخوان راټول، څراغونه بند او مېلمستیا پای ومومي؛ نو آیا خلک به دې سړي ته چې دا مېلمستیا یې چمتو کړې وه، نه وایي، چې زحمتونه دې تویې ولاړل او مېلمستیا دې هڅې وه؟ آیا داسې نه ده، چې له دې مېلمنو یوه ګټنه شوې وه او د مېلمستیا یوه موخه وای؟

تردې ببلګې روسته، خپلې زده کړې ته ورځو.

ځمکه خپور شوی دسترخوان دی، چې ډول ډول خواړه، مېوې، رنګونه، خوندونه، سیندونه، غرونه، کانونه او ښکلاوې پرې ایښوول شوې او ځمکمېشتي د څه مودې لپاره په دې ستر کور کې دي. ځینې خلک ظالمان او ځینې مظلوم دي. که تر څه مودې روسته ټول مړه او د لمر څراغ تت او دسترخوان راټول شي؛ نو په دې پنځون کې څه ګټه ده؟ که له خوړو انسان جوړ شي او انسان ومري او خاورې شي او هېڅ ډول ثواب او عذاب نه وي او بد او ښه خلک ټول یو ځای ورک او پوپناه شي؛ نو دا پنځون به څه موخه ولري؟ که موږ چمتو نه یوو، چې بې موخې دسترخوان خپور کړو؛ نو حکیم الله هم بې موخې انسان نه پنځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله حکیم دی، تردې چې زموږ د ربډو ته یې د ښو تلې جوړ کړی او د بشر هر څه یې پنځولي دي. موږ نشو ویلای چې هر څه بشر ته پنځول شوي ؛ خو بشر یوازې خوړو او ویدېدو ته پنځول شوی دی؛ نو باید یو ((حساب و کتاب )) او ((ثواب و عذاب )) وي او لکه څنګه چې په مني کې د ونو پاڼې رژېږي او بېرته رازغونېږي او لکه څنګه چې تر ویدېدو روسته بېرته راویښېږو، باید بیا ځلي انسان راژوندی شي، چې د خپلو ښېګڼو او بدیو حساب ورسره وشي؛ البته د ښېګڼو او بدیو د لاسباړې یوه برخه په دې نړۍ کې هم ورکول کېږي؛ خو آریز ثواب او عذاب په هغې نړۍ کې دی.

د مړي راژوندي کېدل؛لکه له خوبه راپاڅېدل او د هېرې خبرې د رایادولو په څېر دي. هماغه الله چې موږ یې پنځولي یوو، کولای شي تر مرګ روسته مو بیا ځلي راژوندي کړي.

لکه څنګه چې څوک د لومړي ځل لپاره یو موټر جوړ کړي، کولای شي پورزې یې یو له بله جلا او یو ځل بیا یې سره ونښلوي. لکه څنګه چې موږ کولای شو، خښته بېرته خاوره او بیا هماغه خاوره بېرته خښته کړو. آیا داسې نه ده، چې د ماشوم غاښونه ووځي؛ خو پر ځای یې بیا ځلي کلک غاښونه راوځي؟ ان که د انسان د بدن یوه کوچنۍ ذره وي، پر یوه انسان باندې اوړي. تاسې د انګور د تاک یوه پینځه سانتي متره ښاخ پرې کوئ، په ځمکه یې ټومبئ او کرئ، بیا هماغه کوچنۍ قلمه پر ستره ونه واوړي.

نو هغه الله چې یوه کوچنۍ قلمه ونه کولای شي او د غاښونو ترلوېدو روسته د اوږد ژوند لپاره بیا ځلي کلک غاښ را ایستلی شي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مني کې رژېدلې ونې په پسرلي کې بیا زرغونولی شي او ویده ببرته راویښولی شي؛ نو مړي هم ببرته راژوندي کولای شي؛ ځکه که بیا یې راژوندي نه کړي او انسان په مرګ ورک او پوپناه شي؛نو د هغې بې ګټې مېلمستیا په شان به وي، چې مېلمانه یو پر بل تېری وکړي او دسترخوان راټول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپاړسمه زده کړه: ثواب او عذاب

**الله د خپلو پېغمبرانو له لارې، له هغو کسانو سره يو لړ ژمنې کړې دي، چې پر الله، قيامت او پېغمبرانو ايمان لري.**

ژمنه يې کړې، چې په جنت کې به د تل لپار ژوند ولري او له ډول ډول مېوو، خوړو، خوښيو او خوندونو چې څه غواړي، ګټنه ترې کولای شي. په جنت کې درد، غم، کړاو او خپګان نشته. هلته ناروا خبره نه کېږي. هغوی چې په دنيا کې د الله احکام منلي، په خورا غوره ډول مېلسمتيا ورکول کېږي. مېلمه پالان يې هم خورا ښکلي او ښايسته دي. موږ پر جنتي اوبو او جنتي مېوو نه پوهېږو؛ ځکه موږ چې په دنيا کې له هر ښه ځيزه څو ځل ګټنه وکړو؛ نو زړه مو وهي. د ببلګې په توګه، سېلانيانو ته هغه ښارونه او ځايونه په زړه پورې دي، چې تر اوسه نه وي ورغلي؛ خو په خپله د هغه ځای، ځايي خلکو ته کوم په زړه پورې توب نه لري؛ خو په جنت کې، سره له دې چې جنتيان تل دي؛ خو هره کتنه چې کوي، خوند ترې اخلي.

خو هغو کسانو چې په دنيا کې ناوړه چارې کړې وي؛ په خبره او يا په زور يې خلک کړولي او د الله له نعمتونو يې ګټنه کړې وي؛ خو د الله منننه يې نه وي کړې، د الله د احکامو د پلي کولو پر ځای يې له ((غيرالله)) لاروي کړې وي، نه يې لمونځ کړی وي او نه يې د پېغمبرانو خبره منلې وي، له خپل موروپلار سره يې ناوړه چلن کړی وي، د نورو حق يې لتاړلی وي، پر خپلو ناوړه کړنو پښېمانه شوي نه وي او بښنه يې نه وي غوښتې؛ نو دې ډول خلکو ته دوزخ چمتو شوی دی. د دوزخ اور هېڅکله نه سړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قرآن کې لولو:

((جنتیان، دوزخیان پوښتي: څه دوزخیان کړئ؟))

ځواب ورکوي:

لومړی وايي: ((قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ[1]= موږ له لمونځ کوونکیو څخه نه وو.))

دویم وايي: ((وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ[2]= او بېوزلیو ته مو خواړه نه ورکول.))

درېیم وايي: ((وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ[3]= او تل له باطل پالو سره ملګري او یوه خوله وو.))

څلورم وايي: ((وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ =[4] او تل مو د جزا ورځ دروغ ګڼله.))

کله انسان په یوه شېبه کې چاقو په خپله سترګه ورننومبي؛ خو تل ځان ړندوي، د برېښنا په لوڅو مزو کې ګوتې وهي او مري؛ نو ګناه او په سترګه کې چاقو ورننومبل یوه شېبه وي؛ خو اغېز يې تر تله پاتېږي.

---

[1]. مدثر/ ۴۳ آیت.
[2]. مدثر/۴۴
[3]. مدثر/۴۵
[4]. مدثر/۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دنیا کې هم شونې ده، چې انسان په یوه شېبه کې سرغړونه او ګناه وکړي؛ خو تل ځان د الله په قهر و عذاب اخته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوولسمه زده کړه: د پنځګر وېناوې (حمد سورت)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

د لوراند او لورين الله په نامه

تل او په هر ځای کې، چارې مهم وګڼي پيلوي. د بېلګې په توګه: د يوې مهمې ودانۍ بنسټ ډبره د هماغې سيمې يو ستر شخصيت ږدي. د کارخانې په پرانستو کې پټۍ يو مهم او وچت شخصيت پرې کوي. په جګړه کې د يرغل حکم د ستر مشر له خوا ورکول کېږي؛ نو موږ مسلمانانو ته به غوره دا وي، چې خپلې چارې د الله په نامه پيل کړو ، چې پوهه، ځواک او مينه يې تر هر چا غوره ده.

د قرآن لومړی آيت په (( بسم الله ) ) پيلېږي. نورو پېغمبرانو هم خپلې چارې په (( بسم الله ) ) سره کولې. د خوړو ، سفر، ويدېدو ، موټر کې سپرېدو په پيل کې د (( بسم الله ) ) ويلو سپارښتنه شوې ده.

(( بسم الله ) ) له الله سره د آشنايۍ، پناه وروړو او ترې د مرستې غوښتو نښه ده.

همدا چې انسان وايي: (( د لوراند او لورين الله په نامه ) ) ؛ يعنې الله تعاليه ! پر تا ايمان لرم، درسره مينه لرم، له تا مرسته غواړم او په نامه دې خپلو چارو ته الهي رنګ ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْحَمْدُ للّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

ستاینه یوازې نړۍ پال الله ته ده.

((رب)) هغه ته ویل کېږي، چې هم د یوه څیز څښتن وي او هم یې په وده او روزنه کې ونډه لري. الله هم د هر څه څښتن دی او هم هر څه ته وده ورکوي. ((الْحَمْدُ للّٰهِ)) د مننو غوره ډول دی.

انسان د ښېګڼو پر وړاندې مننه کوي او الله د ټولو ښېګڼو سرچینه ده.

هو ! که له یوه زده کړیال نه د ښه سبق لوستو په پار مننه کوو؛ نو باید د سبق له سرچینې، چې ښوونډ یې دی، هم مننه وکړو.

الله د هر څه لپاره د ودې او روزنې ځانګړې لار ټاکلې؛

د هندوانې زړي ته وده ورکوي، چې هندوانه شي.

د شاتو موچۍ ته یې ورزده کړي، چې پر کوم څیز کېني او څنګه شات جوړ کړي. د موچۍ په بدن کې درې ډوله کارخانې دي؛ د شاتو جوړولو کارخانه، د زهرو جوړولو کارخانه او د موم جوړولو کارخانه، موچۍ ته یې د ځالې جوړولو هنر هم ورزده کړی دی.

نور چې یو څه جوړ کړي؛ نو پرېږدي یې او ځي ترې. د بېلګې په توګه: هغه چې غالۍ اوبدي او یا یوه ودانۍ جوړوي، خپل جوړ کړي نورو ته یې ورکوي او په خپله په بلې غالۍ او ودانۍ پسې ځي؛ خو الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر څه پنځولي، د يوې شېبې لپاره يې هم يوازې نه دي پرېښي او غافل ترې نه دی.

قرآن وايي : ((وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غَافِلِينَ[1]=او موږ هېڅكله له خپلو مخلوقاتو غافل نه وو. ))

الرَّحْمـنِ الرَّحِيمِ

(هغه الله چې ) لوراند او لورين دی.

ددې دوو كليمو جرړه د الله تعالى لورنه او رحمت دی. الله ((رحمان=لوراند )) او ((رحيم=لورين )) دی.

د الله د لورنې څو بېلګو ته اشاره كوو:

پنځون يې لورنه ده.

روزي وركول يې لورنه ده.

روزنه يې لورنه ده.

د الله له لوري د ګناهونو ښښنه يې لورنه ده.

---

[1]. مؤمنون/۱۷ آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداچې ښو کارونو ته لس ثوابونه او بد کار ته یوه سزا ورکوي، لورنه یې ده.

الله د مورو پلار په زړه کې د اولاد مینه اچولې ده.

الله انسان ته عقل، پوهه او حافظه ورکړې ده.

الله انسان ته سترګې، غوږونه او ماغزه ورکړي دي.

د لمر ځلا، د بوټو زرغوني او د ثارویو اېل او رام د هغه له لوري دي.

زموږ پوهه، ځواک او ژوند د هغه په لاس کې دی.

الله چې دومره لوراند دی؛ نو غوره ده، چې ستاینه یې وکړو. مینه ورسره وکړو، په لمانځه او دعا ورسره خبرې وکړو، خبره یې ومنو او سرو غړونه ترې و نه کړو.

مَالِکِ یَوْمِ الدِّینِ

(هغه الله چې) د جزا د ورځې مالک (او واکمن) دی.

که څه الله په هر ځای کې د هر څه مالک دی؛ خو د قیامت پر ورځ انسان ښه پوهېږي، چې الله مالک دی. انسان تل تذکیرې او پېژند پانې ته اړمن دی؛ خو په عادي حالت کې دا اړتیا نه درک کوي؛ خو له هېواده د بهر تلو او یا راستنېدو پر مهال، په ښوونځي کې نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنې پر مهال، په پوهنتون کې د نوم لیکنې پر مهال، له بانک نه د پیسو اخستو پر مهال او دې ته په ورته چارو کې انسان پېژند پاڼې ته اړتیا پیدا کوي او په دې وخت کې یې تر هر وخته ډېره اړتیا ننګېږي.

په قیامت کې هم چې شتمني، کورنۍ، علم، مقام او دوستان د انسان لپاره څه نشي کولای؛ نو انسان په خپل ټول وجود سره پوهېږي، چې بې له الله بل هېڅوک هم واک او ځواک نه لري او پر هغه ورځ پوهېږي، چې مالک او څښتن یوازې الله دی. (مَالِکِ يَوْمِ الدِّينِ)

الله هم زمونږ پنځګر او هم پالونکی دی او هم یې ډول ډول رحمتونه رالېږلي او هم مو په قیامت کې یوازې له هغه سره سروکار دی.

نو یوازې الله لمانځو او مرسته ترې غواړو.

إِيّاکَ نَعْبُدُ وإِيّاکَ نَسْتَعِينُ

(پالونکیه!) یوازې تا لمانځوو او یوازې له تا مرسته غواړو.

هر څوک په یو چا پورې تړاو لري، ورسره مینه کوي، مرسته ترې غواړي، غږ پرې کوي او خپلې ستونزې ورته وایي. انسان هم په لمانځه کې لومړی وایي: الله تعالیه! ته خورا لوراند او لورین یې (بسم الله الرحمن الرحیم).

بیا وایي: ته مو پالونکی یې (رب العالمین)

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکې او قیامت ستا په واک کې دی (مالک یوم الدین )

نو موږ یوازې ستا بندګي کوو او یوازې له تا مرسته غواړو (ایاک نعبدو و ایاک نستعین )

یا الله !((غیرالله ) ) یا یې څه له لاسه نه کېږي، یا نه ګټه رارسولای شي او نه تاوان.

یا مو غږ نه اوري.

یا مو له اړتیاوو خبر نه دي.

یا راسره مینه نه لري، چې مرسته مو وکړي.

یا لږه مرسته کوي.

یا د یوې شېبې لپاره مرسته کوي.

یا یې د مرستې په پار منت راږدي.

یا مو د خپلې مرستې په پار مریبنې او ذلت ته راکاږي.

نو ای الله ! د ((غیرالله ) ) پرځای یوازې ستا بندګۍ ته غاړه ږدو (ایاک نعبد ) او یوازې له تا مرسته غواړو. (ایاک نستعین )

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهدِنَــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ

مونږ ته سمه لار راوښیه ؛

انسان د جماداتو په شان په ټپه ودرېدای او راکد کېدای نشي. انسان اند لري، خبرې کوي، خواړه خوري، ملګري ټاکي، کتاب لولي، دنده ټاکي؛ نو ټول انسانان باید په اند ، خبرو او کړنو کې یوه لار غوره کړي. انسانان په لار ټاکنه کې تېروځي او پښېمانېږي. انسانان باید پر داسې لار روان شي، چې سمه وي او کږه نه وي او سمه لار هماغه نېغه لار ده، چې د (اهدِنَــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ) په غوندله کې یې له الله غواړو ، چې مونږ هغې نېغې لارې ته ورسیخ کړه؛ هغه لار چې د دنیا و آخرت نېکمرغي پکې وي؛ هغه لار چې پېغمبران او د الله غوره بندګان پرې تللي دي، هغه لار چې کږلېچونه، پېچومي، تېروتنې او پښېمانۍ پکې نه وي.

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ
د هغو لار چې لورنه دې پرې کړې،نه (د هغو لار ) چې غوسه شوې پرې یې او نه د بېلارې شویو لار !
شونې ده ، هر څوک خپله لار ، اند او کار سم او پرحق ګڼي؛ خو له الله غواړو ، چې زمونږ لار د پېغمبرانو ، صالحانو ، شهداوو او رښتینو لار وګرځوي. هو ! شته داسې کسان، چې الله ډول ډول نعمتونه ورکړي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ناشکره او ورکلاري شو او یوه ډله په همدې نړۍ کې د الله پر قهر او عذاب اخته شوې ده.
موږ له خپل الله دوه شیزونه غواړو:
یو دا چې نېغې لارې ته مو ورسیخ کړي، د هغو کسانو لار، چې نعمت یې ورکړی دی.
دویم دا چې موږ د الله نعمتونه، په خپله ناشکرۍ، ګناه او کږلارۍ د الله تعالی پر قهر بدل نه کړو.
هو ! د الله نعمت یو ډول خیر دی او سمه ګټنه ترې بل شیز دی؛ د بېلګې په توګه: پوهه او لیکنه د الله نعمت دی؛ خو کولای شو د الله له دې نعمتونو ناوړګټنه وکړو او د مینې د لیک پر ځای پرې کنځا ولیکو.
حمد سورت ته تر یوې ځلغنده کتنې روسته، اوس یو بل آیت څېړو:
له نورو سره زموږ نېکي لاملېږي، چې الله مو نعمتونه راډېر کړي[1].
البته که د الله نعمتونه نورو ته ور ایثار کړو؛ نو هم به مو د نعمتونو

[111]. که په مېلمستیا کې یې له مېوو ډک لوښی راوړ، که موږ یوازې په خپله مېوه راواخلو؛ نو لوښی به له موږ لرې او د نورو په مخ کې به یې کېږدي؛ خو که مېوه یې موږ ته راوړه او یوه مېوه ترې هغه ته ورکړو، چې ښي اړخ ته مو ناست دی او یوه مېوه ترې هغه ته ورکړو، چې کیڼ لوري ته مو ناست دی؛ نو تر هغه چې موږ په خپله نورو مېلمنو ته مېوه ورکوو؛ نو کوربه به د مېوو لوښی زموږ په مخ کې ایښی وي؛ نو همداسې، تر هغه چې موږ د خدای له بندګانو سره نېکي کوو؛ نو د الله د نېکیو لوری به موږ یو او پر موږ به خپلې نېکۍ رالوروي. قرآن کریم وایي: ((إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ اسراء/ اووم آیت = که نېکي وکړئ، له ځان سره به مو کړې وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکر پر ځای کړی وي او هم به یې د تلپاتنې لامل شوي یو ؛ لکه څنګه چې الله وایي:
((وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ [1]=او لکه الله چې درسره ښېګڼه کړې ده، ته هم ښېګڼې کوه. ))
هو ! له نورو ښېګڼه کول، الهي حکم دی، چې کول یې ستر ثوابونه لري.
له نورو سره نېکي کول، د انسانانو ستونزې هواروي او د ټولنې د وګړیو ترمنځ برابري او روري رامنځ ته کوي.
له نورو سره نېکي کول لاملېږي، چې که کومه ورځ موږ په ستونزو کې یو ؛ نو هغه به راسره مرسته کوي، چې نېکي مو ورسره کړې ده. له نورو سره نېکي کول، له الله تعالیه د مننې یو ډول دی.
له نورو سره نېکي کول، هر ډول مینه، چوپړ، ملاتړ او مرسته رانغاړي.

---

[1]. قصص/ ۷۷ آیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتلسمه زده کړه:

# د پنځګر وينا (والعصر سورت)

بِسْمِ اللّٰهِ الرّحْمَنِ الرّحِيم

وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنّ الإِنْسَانَ لَفِى خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلا الّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾

ژباړه:

د لوراند او لورين الله په نامه

١ پر زمانې قسم! ٢ بېشکه (هر) انسان په زيان کې دی. ٣ خو بې له هغوی چې ايمان يې راوړی او ښه (کارونه) يې کړي او يو بل ته يې د حق سپارښتنه او د زغم سپارښتنه کړې وي.

وخت خورا مهم او ګران دی او الله يې په ټولو وختونو قسم خوړلی دی، د بېلګې په توګه:

(والفجر[1]) په سپېده داغ قسم!

(والصبح[2]) پر سهار قسم!

(والضحی[3]) پر غرمه قسم!

(والنهار[4]) پر ورځ قسم!

(والعصر[5]) پر مازيګر قسم!

---

١. فجر/ لومړی آيت

٢تکوير/ ١٨آيت

٣ضحی/ لومړی آيت

٤ شمس/ ٣ آيت

٥ عصر/ لومړی آيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



(والیل[1] ) پر شپه قسم ! )
(وَ اللّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ[2] ) ! او پر شپه قسم، چې (لمن
راټوله او ) شا کړي !
د ګټنې او تاوان توپیر
الله تر قسم خوړو روسته وایي:
((إِنّ الإِنْسَانَ لَفِی خُسْرٍ = بېشکه (هر ) انسان په زیان کې دی. ) )
که توکي وي او بیه یې راټیټه شي، تاوان دی. د بېلګې په توګه که سره زر ارزانه شي؛ نو وایي، چې څښتن یې ((ضرر ) ) کړی دی؛ ځکه سره زر شته؛ خو بیه یې راټیټه شوې ده؛ خو که توکي او پانګه دواړه له منځه ولاړه شي، وایي، چې ((خسارت ) ) یې کړی دی. د بېلګې په توګه هغه یخ پلوری، چې ګهاک و نه لري؛ نو دلته د یخ بیه راټیټه شوې نه؛ بلکې پانګه اوبه شوې ده.
که انسان له خپل عمره سمه ګټنه و نه کړي؛ نو پانګه یې له منځه تللې؛ ځکه د انسان عمر یې تر ټولو اوچته پانګه ده.
که مال یې له منځه ولاړ شي؛ نو پر ځای یې نور راتلای شي؛ خو تللی عمر بېرته نشي راتلای.

[1] لیل/ لومړی آیت
[2]. مدثر/۳۳ آیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



((إِلا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ))

خو بې له هغوی چې ایمان یې راوړی او ښه (کارونه) یې کړي او یو بل ته یې د حق سپارښتنه او د زغم سپارښتنه کړې وي.

قرآن کریم وايي: (( پر زمانه او روزګار قسم، چې انسان د اوبه کېدو او تويېدو په حال کې دی؛ یعنې هره شېبه یې ځي او بېرته نه راګرځي؛ خو هغه کسان چې ایمان یې راوړی او ښې چارې کوي، چې د عمر له لاسه ورکولو پر وړاندې یې د ایمان او ښو کړنو پانګه لاس ته راوړې ده.

پر الله، قیامت او آسماني پېغمبرانو ایمان، پر حق او حقه لار ایمان دی.

په حدیث کې راغلي دي: (( ایمان لس درجې دي؛ د ځینو ایمان په ټیټه درجه کې او د ځینو په لوړه درجه کې دی. ))

د بشپړ ایمان نښه داده:

انسان تر هغه څه چې په خپل لاس کې یې دي، پر هغه څه ډېر ډاډ ولري، چې له الله سره دي. د بېلګې په توګه: و نه وايي: ((دا چې زده کړه مې کړې او ښې نمرې مې اخستي؛ نو نېکمرغه به شم. )) و نه وايي: (( دا چې پلار مې شتمن دی؛ نو ښه او هوسا ژوند به ولرم. )) ؛ ځکه شوني ده د انسان ټوله پانګه په یوه شېبه کې له منځه ولاړه شي.

موږ باید له خپلو شونتیاوو او هڅو ګټنه وکړو؛ خو فکر و نه کړو، چې هرکاره یو. کله د بریښنا ټوله لینکشي سمه وي، ګروپونه سم وي؛ خو له برج نه بریښنا پرې شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولا علي کرم الله وجهه وايي: ((و مې ليدل، چې هوډونه ګډوډ يږي؛ نو پوه شوم، چې يو الله شته، چې له بلې لارې د چارو سمونه کوي.[1]))
له خپلو هڅو دې لاس پر سر نشو؛ خو بايد ومنو، چې زموږ هڅې، اند او کړلارې د الله د ارادې په مخ کې د پېښدای نشي.
معمولا په قرآن کريم د (آمنوا) کلمې ترڅنګ د (عملوا الصالحات) کلمه راغلې، چې ووايي: ((ايمان)) بايد له ((نېکو کړنو)) سره مل وي.
که موروپلار خپل اولاد ته ووايي، چې مينه درسره لرم؛ خو خپل اولاد ته کوم کار و نه کړي؛ نو اولاد به وايي، چې دا لا څنګه مينه ده، چې له عمل سره مل نه ده؟
قرآن کريم، رسول الله(ص) ته وايي: ((خلکو ته وواياست، چې که له الله سره مينه لرئ؛ نو له ما لاروي وکړئ.[2]))
مينه او ايمان بايد له عمل سره مل وي؛ هغه هم له نېک عمل او ښو کړنو سره؛ هغه هم ټولې هغه ښې چارې چې د کولو زمينه يې وي؛ نه دا چې ځينې ښې کړنې وکړو او ځينې نه.
که پوړۍ يوازې يو يا دوه پاټکي درلودل؛ نو موږ يې بام ته نشو خېژولای.
که رنځور د طبيب په يوازې ځينو خبرو عمل وکړي؛ نو روغ به نشي.
که يو ماشوم وزيږېد او يوازې لاس و پښې او سر يې وده وکړه او د بدن نور غړي يې وده و نه کړي؛ نو دا ماشوم به سم ژوند ونشي کړای.

---

[1]. بحارالانوار، ۸۳ ټوک، ۱۸۹ مخ.
[2]. آل عمران/۳۱ آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان او عمل د ستنې او تار په شان دي، چې یو ځای وي؛ ګڼدل کولای شي.
((وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ))
او یو بل ته یې د حق سپارښتنه او د زغم سپارښتنه کړې وي.
الله په دې سورت کې وايي: ټول خلک د یخ په څېر او به کېږي او تاوان کوي؛ خو هغه انسانان چې ایمانوال او نېکچاري وي؛ ځکه څومره چې یې عمر کمېږي؛ اپوته یې ایمان او نېکې کړنې زیاتېږي. د سورت په پای کې وايي: یوازې په خپل فکر کې کېدل کافي نه دي؛ بلکې باید به بشپړه زړه سواندی، نورو ته هم پر حق لار د تلو سپارښتنه وکړي (وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ) او په یوه ځل او دوو ځلو دې زړه نه خوشحالوي؛ بلکې تل دې د حق پر سپارښتنه ټینګار وکړي او که چا یې خبرې ته غوږ کېنښود؛ نو نهیلېږي دې نه؛ بلکې دومره مقاومت او صبر دې وکړي، چې نور هم د حق لارې ته را واړوي، د هغه چا په څېر، چې غواړي یو لرګی مات کړي؛ نو دومره تبر وهي، چې مات یې کړي او هېڅکله نه وايي، چې څو تبرونه مې ووهل؛ خو مات نشو؛ نو لاس پر سر بېږم. (وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نولسمه زده کړه: د پنځګر وينا (درې نعمتونه)

الله په قرآن کې وايي:
((أَيَحْسَبُ أَنْ لَمْ يَرَهُ أَحَدٌ. أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ. وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ[1]= آيا (انسان) انګېري، چې هېڅ ليدلی نه دی (چې ښېګڼه يې نه ده کړې) ؟ !آيا دوه سترګې مو ورکړې نه دي؟ !او يوه ژبه او دوې شونډې؟ !))
انسانويني؛ خو داسې خيال کوي، چې الله تعالی به يې نه ويني؟ !

آيا هېر کړي مو دي، چې الله تعالی سترګې ته څو ساتندويان ګومارلي دي؟

اوښکې تروې دي، چې دننه سترګه وساتي او وريځې، باڼه او سترغلي چې د سترګې سپرګي دي.

د سترګې انځور اخستنه، اوډونولو ته اړتيا نه لري، ستړيا نه لري، هم ساده انځور اخلي، هم رنګي. آيا د انځور اخستو دستګاه چې له ځلېښينو اوبو جوړه شوې او په ميليونو انځورونه اخلي، پنځګر نه لري؟

پر انځور اخستنې سربېره، په سترګو د غوسې او مينې څرګندونه کېږي.

---

[1]، بلد/۷-۹ آيتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګه د انسان د ښکلا وزله ده. انسان په یوه سترګه نشي کولای، چې واټن، ژوروالی او واټن په ښه توګه درک کړي. سترګه د وګړیو د پېژندو وزله ده.

که د انسان غوږونه، شونډې او خوله تړل شوې وي، پېژندل کېږي؛ خو که پر سترګو یې پټۍ وي او وتړل شي؛ نو نه پېژندل کېږي.

سترګې نور خلک اغېزمنوي، د استاد له سترګو د زده کړیال د سترګو حیا.

(وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ= او یوه ژبه او دوې شونډې؟ !)

ژبه په دوو شونډو کلمې جوړوي او بې شونډوو ډېرى کلمات او غږونه نشي جوړولی.

بېلابېلې لهجې او ژبې د الله د ځواک له نښو څنې دي. انسان د جملاتو او کلیماتو په جوړولو کې محدودیت نه لري.

په ژبه خوند څکل کېږي.

د الله تعالی په ځواک، هومره اوبه، چې د حرکت، خبرو او ژوولو لپاره په کار دي، په خوله کې په اتومات ښه جوړېږي، چې ژبه په ویښه او خوب کې لمده وي.

د خولې د اوبو تولید نه لږ دی نه ډېر، چې له خولې راتویې شي او نه دومره لږ دی، چې انسان دې اړ کړي، چې تل د اوبو ترڅنګ ووسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خولې د اوبو خوند خوږ دی او ښه یې داسې ده، چې د خوړو په هضم کې مرسته کوي.

ژبه خواړه د ژوولو لپاره غاښونو ته ورکوي؛ خو پخپله تر غاښونو لاندې نه راځي. ژبه خواړه څاري او تر خوړو روسته، خوله جارو کوي.

شونډې هم الهي نعمت دی. په ښکلې او منحنی بڼه دي، په همدې شونډو ماشوم د مور تی روي، انسان پرې خبرې کوي، پوکی ورکوي، هوا پرې په آسانۍ او وړیا توګه ننباسي او وباسي.

رښتیا که شونډې یو د بل د پاسه نه وای او پرانستې وای؛ نو انسان څومره بدرنګېده، د خوړو او څښلو پر مهال به یې خواړه او اوبه له خولې راتویېدې او له خورا ستونزو سره به مخ و.

الله په قرآن کې څو ځل ویلي دي: که نعمتونه مو اپوته کړي وای، تاسې به څه کول او چا ته به مو پناه وروړه او چا به مو ستونزه هواروله؟ د بېلګې په توګه: په ملک سورت کې لولو: ((قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ=وو ایه: ((ما خبر کړئ، که (د سیمې) اوبه مو [په ځمکه کې] ښکته ولاړې شي؛ نو څوک درته روانې او خوندورې اوبه راولي؟!)))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوويشتمه زده کړه: د پنځګر وينا (له سختيو به نه ډارېږو)

الله په قرآن کې وايي:

((فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا. إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا[1]= نو په حقيقت کې له (هرې) سختۍ سره يوه اساني شته، په رښتينه کې له (هرې) سختۍ سره يوه اساني شته.))

انسان دې داسې نه کوي، چې له ستونزو، سختيو او کړاوونو سره د مخېدو پر مهال يې يوازې ظاهر ووينې؛ بلکې بايد ومنو، چې له سختيو سره آسانۍ هم شته دی.

بزګري ستونزمن چار دی؛ خو که انسان ومني، چې محصولات او مېوې يې د کار په پای کې وي؛ نو دې ستونزو ته غاړه ږدي.

زده کړه، کار کول، د نورو چوپړ او دې ته ورته چارې ستونزمنې دي؛ خو عالمېدل، پر خپلو پښو درېدل او محبوبېدل ورسره دي.

لمونځ کول او په تېره د سهار لمانځه ته جومات ته تګ خورا ستونزمن چار دی؛ خو د الله د رضا او د خورا ډېرو ثوابونو را يادول يې د ستونزو ګالل اسانوي.

نابرده رنج گنج ميسر نمی شود مزد آن گرفت که جان برادر کار کرد

---

[1]. انشراح ۵-۶ آيتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پوه شو ، چې د سختیو او ستونزو ګالل، د الله د خوښۍ لامل دی، موږ به یې وزغمو ؛ لکه که پوه شو چې د رنځ درملنه مو په پلانیو ترخو درملو کې ده؛ نو هرومره یې خورو.

که پوه شو ، چې ټولو بریالیو وګړیو ، د ژوند تراخه څکلي؛ نو موږ به یې هم وڅکو.

که پوه شو ، چې سختۍ او کړاوونه مو هوښیاروي او له بې توپیرۍ او بې خیالۍ مو ژغوري او که پوه شو ، چې صبر او مقاومت د الله د خوښۍ لامل ګرځي؛ نو په خورا خوشحالۍ سره، سختیو او ستونزو ته ورغاړې وځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (دروغ)

داچې دورغ داسې یوه ګناه ده، چې ویلو ته یې وخت، ځای، ځواک، پیسو او وزلې ته اړتیا نشته؛ نو انسان پرې ژر اخته کېږي.

شته داسې نا اهله وګړي، چې خلکو ته د دروغو ژمنې ورکوي، خلک د ځان پلوي کوي او حکومت پرې کوي.

په درواغو ویلو انسان خورا خطرناکې کړنې کوي. د یوسف علیه السلام رونو په دروغو خپل پلار ته وویل: ((که یوسف د سیل لپاره راسره ولېږې؛ نو موږ به یې خیرغواړي او ساتونکي یو.)) تر هغه روسته یې په دورغو وویل: ((هغه لېوه خوړلی دی، ان د شپې شپې خپل پلار ته ورغلل او و یې ژړل.))

په زرونو ښه انسانان، د نااهلو د دروغ ویلو له لامله ښکېل او ان وژل شو او یا په بند کې بندیوان شوي دي. ټول پېغمبران، دورغ ویل ګناه ګڼي.

امام حسن عسکري وایي: ((دروغ د نورو ګناهونو کونجي ده.))

لکه څنګه چې د یوسف علیه السلام رونو په خپلو دروغو خپل یو رور وتښتاوه او په څاه کې یې ورواچاوه او پېغمبر پلار یې، په لسونو کلونو ویرجن او غمجن کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام صادق وایي: ((ملګري مو د رښتیا ویلو له لارې وپېژنئ، نه دوی د عبادت له لارې؛ ځکه کله ځینې وګړي عبادت کوي، لمونځونه کوي، روژې نیسي؛ خو خبره یې دروغ وي.))

که انسان دروغ ووایي او خبره اپوټه کړي؛ نو د نورو خلکو فکر او عمل هم اپوټه کوي.

دروغجن بېوزلېږي؛ ځکه د بېلګې په توګه، که یوه هټیوال یو څه وپلورل او په دورغو یې وویل، چې دا توکی روغ دی؛ خو که هغه توکی نیمګړی یا روغ نه و؛ نو بل ځل ترې څوک سودا نه اخلي او په خپلو همدې دروغو خپل ګهاک له ځانه توري کوي او بېوزلېږي.

دورغجن بې حیا کېږي؛ ځکه نورو ته چې یې دروغ ورڅرګند شول؛ نو بې پته شي او او بې پته انسانان پر بې حیا چارو لاس پورې کوي.

دورغ لیکل، د دورغ ویلو په څېر دي او ګناه ده.

که یو ډاکټر رنځ تشخیص نه کړي او رنځور ته نسخه ولیکي؛ نو دروغ یې لیکلي دي.

کله موږ د تفریح او سات تېرۍ لپاره نورو ته دروغ وایو، نورو ته دروغ رانقلوو او کله په دروغو یو ناروا چار د یوه ولایت خلکو ته ورمنسبوو.

دروغجن تل په تشویش کې وي، چې هسې نه دروغ یې نورو ته معلوم او بې پته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رواياتو کې راغلي دي: (( له دورغجن سره ملګرتيا مه کوئ ))
خلک چې د دروغجن له دروغو خبر شي، له هغه لرې کېږي او ژوند پرې ورتريخېږي.

داسې بايد و نه کړو، چې څه مو واورېدل، نورو ته يې ووايو؛ ځکه ډېرې اورېدل شوي، دروغ وي.

ماشوم او کوچني ته هم دروغ ويل حرام دي. اسلام سپارښتنه کوي، چې ان په ټوکو کې هم دروغ مه وياست.

د دروغو ډولونه:
کله يو موټر چلوونکی په ځانګړيو څراغونو او په پرله پسې هارنونو خلکو ته داسې څرګندوي، چې په موټر کې مې رنځور دی، حال دا چې داسې نه ده، چې دا کار يې يو ډول دروغ دي.

کله انسان په خپلو کړنو دروغ وايي، د بېلګې په توګه په خپله ژمنه عمل نه کوي، يا خپل سر د ښه والي يا بد والي په نښه خوځوي، حال دا چې هغسې نه دی، چې څنګه څرګندونه کوي.

البته په هر ځای کې رښتيا ويل هم جايز نه دي، د بېلګې په توګه: که څوک مو وپوښتي: پلاني په ما پسې بد ويلي که نه؟ که مور دلته رښتيا ورته ووايو، چې هو بدې ردې يې درپسې ويلي؛ نو د دوو کسانو ترمنځ فتنه رامنځ ته کېږي؛ نو دلته به رښتيا نه وايو.

په يوه حديث کې راغلي دي: (( که له کوچني سره مو کومه ژمنه کړې وي؛ نو پوره يې کړئ، چې دروغجن نشئ. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروغ او ربډل هم گناه ده، قرآن کریم وايي: ((مؤمنانو ! که کوم فاسق سړي یو ستر خبر دروړ؛ نو (په اړه يې) څېړنه وکړئ، هسې نه په ناپوهۍ کې کومې ډلې ته زيان ورورسوئ او (بيا) پر خپلو کړنو پښېمانه شئ.[1] ))

---

[1]. حجرات/ ۶آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه ویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (ژبه)

ژبه کوچنۍ؛ خو کارونه ستر کوي.

چې چا خبرې نه وي کړې؛ نو نیمګړتیا او هنر یې پټ وي.

مولا علي کرم الله وجهه وايي: (( د انسان مقام یې تر ژبې لاندې پټ دی.[1] ))

الله په قرآن کې وايي : ((وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ=او یوه ژبه او دوې شونډې؟ ![2] ))

## د نېکیو سرچینې

دلته د ژبې په باب د الله ځینو احکامو ته اشاره کوو:

1 - په ژبه د الله تعالی عبادت وکړئ، یاد یې کړئ او مننه یې وکړئ

2 - په ژبه کتاب الله ولولئ.

3 - په ژبه خلک نېکیو ته راوبلئ.

4 - په ژبه خلک له بدیو منع کړئ.

5 - په ژبه د ظالم خلاف غږ پورته کړئ او له مظلومه ملاتړ وکړئ.

---

[1]. نهج البلاغه/۳۹۲ حکمت.

[2]. بلد/۹ آیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



6 - په ژبه پر خلکو سلام ویاست او زړونه نږدې کړئ.
7 - په ژبه خلک ښاد کړئ.
8 - په ژبه ورزد کړه وکړئ.
9 - په ژبه اذان وایو.
10 - باید له خلکو سره ښې خبرې وکړو.
11 - مورو پلار ته ترخه خبره و نه کړو.
12 - د خلکو خوالې بربنډې نه کړو.
13 - تر شوني بریده قسم و نه خورو.
14 - داسې څه و نه وایو، چې نور پرې خپه کړو.
15 - په خبرو کې انصاف ولرو.
16 - د هغه کار ژمنه له چا سره ونکړو، چې له وسې مو پوره نه وي.

## د ژبې ځنې ښه آثار:

### د ګناهونو سرچینه:

دلته د ژبې ځینو ګناهونو ته اشاره کوو:

۱- په ژبه بل ته پېغور ورکولای شو او له ځانه یې خپه کولای شو. (وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ[۱] = افسوس دې وې پر هر بدژبي عیب لټوونکي (پېغور ورکوونکي) ! )
۲- په ژبه په بل پسې خبرې او سپکې سپورې ویلای شو.

---

[۱] همزه/ لومړی آیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- په ژبه ظالم هڅولای شو.
۴- په ژبه یو کس کړلا رولای شو.
۵- په ژبه بل سپکولای شو.
۶- په ژبه د دښمن په ګټه ګړېدای شو.
۷- په ژبه چټیات ویلی شو او د نااهلو ستاینه کولای شو.
۸- په ژبه د بل خواله بربندولای شو.

هو ! ژبه د کونجي په څېر ده، یو لوري ته په حرکت ورکولو، ور پرانځي او بل لوري ته په چورلولو، ور تړلی شي. هغه ژبه، چې هومره عبادتونه پرې کولای شو، دېرې ګناهان هم پرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریوشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (سلام اچول)

((سلام)) د الله یوه نامه ده؛ یعني الله یوه نیمګړتیا هم نه لري. لکه څنګه چې د ((سبحان الله)) مانا هم داده، چې الله یوه نیمګړتیا هم نه لري.

د جنت یوه نامه ((دارالسلام)) ده؛ یعني هغه کور، چې هېڅ ډول درد، رنځ او کړاو پکې نشته.

الله پر خپلو نېکو بندګانو ((سلام)) کوي. په قرآن کې لولو:

سَلَامٌ عَلَى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ= په نړیوالو کې دې پر نوح سلام وي[1].

(سَلَامٌ عَلَى إِبْرَاهِيمَ = پر ابراهیم سلام!)[2].

(سَلَامٌ عَلَى مُوسَى وَهَارُونَ= سلام پر موسى او هارون!)[3].

(سَلَامٌ عَلَى إِلْ يَاسِينَ = سلام دې وي پر الیاسین!)[4]

الله پر حضرت نوح، حضرت ابراهیم، حضرت موسی، حضرت هارون او ټولو پېغمبرانو سلام کوي.

پېغمبرانو، په تېره حضرت محمد (ص)، پر ټولو، ان پر کوچنیانو سلام اچاوه. الله خپل استازي ته وايي:

---

[1]. صافات/۷۹

[2]. صافات/۱۰۹

[3]. صافات/۱۲۰

[4]. صافات/۱۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



((او چې کله هغوی درشي، چې زموږ پر آیتونو ایمان لري؛ نو ورته ووایه : (( سلام پر تاسې ! ستاسې پالونکي، رحمت پرځان فرض کړی، دا سې چې، که له تاسې څوک په ناپوهۍ کې یو بد کار وکړي، روسته توبه تري وباسي او ځان سم کړي (؛ نو الله پرې لورېږي؛ ځکه) هغه لورین ښښونکی دی.[1]))

په قیامت کې پرښتې پر جنتیانو ((سلام)) وايي.

اسلام د دوو مسلمانانو د لیدو پر مهال ((سلام)) مطرح کړی دی.

((سلام)) خورا کوچنۍ کلمه ده؛ خو ډېرې ماناوې لري.

((سلام)) د برکت او خطرو د لرېوالي په مانا د ی.

((سلام)) د لېوالتیا او ښادۍ نښه ده.

((سلام)) نورو ته خورا ارزانه او ارزښتمنه ډالۍ ده.

((سلام)) د نورو درناوی دی.

((سلام)) زړه آراموونکی دی.

---

۱. [1]. انعام/ ۵۴= وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ أَنَّهُ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِن بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((سلام)) د مينې د ډېرېدو لامل او پر يوه مسلمان د بل مسلمان لومړنی حق دی.

((سلام)) روغتيا ته رابلنه او له خطرو ځان ژغورنه ده.

((سلام)) د دې څرګندوی دی، چې انسان کبرجن او کنجوس نه دی.

((سلام)) کول هم خلک ښادوي او هم ګناهونه ښښي او هم ثوابونه زياتوي.

((سلام)) اچول د الهي حکم پلي کول دي.

((سلام)) اچول د الله تعالی ذکر دی.

((سلام)) اچول د امنيت کونجي او د نورو لاسنيوي ته ور پرانستل دي.

پر ((سلام)) اچولو خلکو ته وايو: ((راباندې ګران يې، په زړه کې مې درته کينه نشته.))

((سلام)) اچول يو ډول الهي ادب دی، چې الله ټولو پېغمبرانو ته ورزده کړی دی.

موږ په لمانځه کې هم پر حضرت محمد (ص) سلام وايو:

((السلام عليک ايها النبی و رحمة الله و برکاته)). همداراز په هر وخت او ځای کې چې څو مره د الله ښه او صالح بندګان دي، سلام پرې وايو: ((السلام علينا و علی عباد الله الصالحين))

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې مخکې سلام کوي، هماغه پر الله ګران دی او څوک چې سلام نه کوي، کنجوس دی.

د ((سلام)) اچوونکي ثواب تر جواب ورکونکي اویا ګرایه ډېر دی.

د خلکو ترمنځ چې ((سلام)) اچول لږ شي؛ نو دښمنۍ او کینې پکې ډېرې شي.

په یوه حدیث کې راغلي دي: (( د هغه چا د خبرې ځواب مه ورکوئ، چې بې له ((سلام)) کولو خبرې پیلوي او ان هغه وګړي بیخي خپلو مېلمستیاوو ته مه راغواړئ، چې د ((سلام)) په ځوابولو کې کنجوسي کوي. ))

غوره ده کوچنیان خپلو مشرانو ته ((سلام)) وکړي، هغوی چې روان دي پر ناستو ((سلام)) وکړي، لږ خلک پر ډېرو خلکو ((سلام)) وکړي او شتمن پر بېوزلیو سلام وکړي.

هڅه وکړئ، چې په ((سلام)) کولو کې د خلکو ترمنځ توپیر و نه کړئ، پر لوړ غږ سلام وکړئ او د خلکو د سلام ځواب په ښه توګه ورکړئ، په ټولنه کې ((سلام)) کول دود کړو.

په یوه حدیث کې راغلي دي: د سلام دودول، د الله د بښنې، د ځان روغ پاتېدو او تر نورو د غوراوي لامل ګرځي.

سلام کول مستحب؛ خو ځواب یې فرض دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام سپارښتنه کوي، نورو ته سلام واستوئ. رسول الله (ص) خپل يوه ملګري ته وويل: ته د اورېد عمر ښبنتن يې او زما سلام امام باقر ته ورسوه، چې زه يې نه ګورم.

اسلام وايي: ناورچاريو، چتهي ويونکيو او کفارو ته سلام مه کوئ.

هيله ده تر خبرو او هرې ناستې مخکې سلام وکړو، د بېلګې په توګه: چې کله په تيليفون خبرې کوو، د (Hello ) پر ځای ((سلام عليکم)) ووايو. چې کله ټولګي يا بل ځای ته ورننوځو، سلام وکړو. تر ځان کوچنيو او هغوی چې زموږ تر لاس لاندې دي او ان هغوی چې نه پېژنو، سلام پرې وکړو؛ لکه د جمعې د لمونځ امام، چې د خطبو په پيل کې پر ټولو سلام کوي.

په قرآن کې ډېر آيتونه د سلام اچولو په باب راغلي دي. که چا راباندې سلام واچاوه؛ نو موږ يې بايد په خورا غوره توګه ځواب ورکړو.

هو ! په يوه کلمه کې هم د اړيکو لپاره دومره نور او برکت نشته، سلام اچول بايد زموږ يو روږد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلرویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (حجاب )

لکه څنګه چې بوټان پښې ساتي او جامې بدن ساتي. بدن یوازې له سړو او تودوخې نه ساتل کېږي، څومره چې بدن په مناسبه توګه وپوښل شي، روغتیا به ډېره او څومره چې د لغړېدو پر لوري ځو، ډېرې فتنې او فساد به مو مل وي. پوښل د سړي او ښځې لپاره واجب او د پېغلو لپاره خو بیخي اړین دی.

کوم څیزونه چې ګرانبیه او ارزښتمن وي؛ نو انسان یې بې پوښښه هر چا ته نه ورښیي. پر ګرانبیه ماشینونو او ګرانبیه توکیو یو ډول پوښ وي.

که لغړتوب دود شو؛ نو هر څوک به غواړي، چې خپلې ښکلاوې ښې او ډېرې وښیي او څومره چې ښکلاوو ته پام ورډېر شي؛ نو انسان له خپلو سترو موخو غافلېږي.

تاسې که ښوونځي ته د تګ پر مهال د څیزونو پر لیدو بوخت شئ؛ نو یا به له ټولګي پاتې شئ او یا به مو په ټولګي کې فکر له هغو ښکلیو څیزونو سره وي، چې پر لار مو ورلیدلي دي.

لیدل اسان چار دی؛ خو اغېز یې د انسان پر اروا پاتېږي.

ښو موخو ته د وررسېدو لپاره اسلام سپارښتنه کړې، چې خپرو ورو چارو ته پام و نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څو بېلګو ته پام وکړئ:

1 - اسلام وايي: ((له خوړو خوند اخستو ته مو پام خپلو خوړو ته کړئ[1])) هغوی چې د خوړو پر مهال ټلويزون او هاخوا او دېخوا ګوري؛ نو له خپلو خوړوو بشپړ خوند نه اخلي.
2 - د انځور، مجسمې، پرانستي ور او د انسانانو په مخ کې لمونځ مه کوئ؛ ځکه دوی ته کتل مو له خپلې آريزې موخې، چې له الله سره خبرې او اړيکه دي، لرې کوي.
3 - په زده کړې، مطالعې او ازمېينه کې چې څومره خپل شاوخوا ته ګورو؛ نو بريا به لږه وي.

داچې هر څوک خپلې موخې ته ورسي او فکر يې وا نه لوځي؛ نو اسلام ټولو ته حکم کوي، چې له خپلو ښکلاوو دې بهر ګتنه نه کوي او کوځې او واټونه دې داسې وي، چې هر څوک په جدي توګه په خپل کار پسې وي، چې خپلې موخې ته ورسي.

څومره چې پلوشې ډېرې وي او څومره چې شاوخوا ته ګورو؛ نو له خپله هوډه مو يو څه راکم کړي دي؛ لکه د اوبو لښتی، چې شاوخوا ته ترې اوبه ولاړې شي؛ نو پټې ته يې لږې اوبه رسي.

هر کال په ميليونو د موټروانۍ پېښې د موټرچلوونکيو د فکر الوتو له لامله رامنځ ته کېږي. که تاسې يوازې پخپلو جامو او کار کې کار

---

[1]. عبس/۲۴ آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولرئ؛ نو غم به مو نه وي؛ خو که له کوره راووتئ او هر موټر او جامو ته مو پام شو، یا مو له نورو سره حسادت وکړ؛ نو یا کړېږئ او یا به خپل مورو پلار ته بدوین شئ او به مو الله ته لېوالتیا لږه شي.

دا په ټولنه کې له نامناسب پوښښ سره د ګرځېدو او سترګو څرولو د تاوانونو یوه څنډه ده.

قرآن وايي: ((پېغمبره ! خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته وو ایه: ((پر ځانونو دې د خپلو ټکریو پلوونه راتاو کړي، دا غوره چار دی، چې دوی وپېژندل شي او و نه ځورل شي. (او که تر او سه خطا او لنډون ترې شوی وي؛ نو توبه دې وکاږي) او الله لورین ښښونکی دی.[1] ))

هغه الله چې پنځولي يې يو او سترګې يې راکړي او زموږ خوند اخستو ته یې ان اسمانونه په ستوريو پسوللي، که موږ ته يې وويل، چې ځان وپوښئ او هر څه ته مه ګورئ؛ نو زموږ د خیر خبره يې کړې ده.

که الله هضمي سستم راکړی او ډول ډول خوندورې مېوې يې راته وپنځولې؛ خو که راته يې وويل، چې د خنځير غوښه مه خورئ او شراب مه څښئ؛ نو زموږ په خير يې خبره کړې ده.

---

[1]. احزاب/۵۹ آیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه مورو پلار په خپلو ټولو هڅو، ټول هغه امکانات چې په وس کې یې وي، موږ ته راچمتو کړي؛ نو که سپارښتنه وکړي، چې په یوه ځانګړي ځیز او چار پسې ولاړ نشو؛ نو زموږ په خیر یې خبره کړې ده.

په نړۍ کې چې هر هېواد له حجاب، پوښښ، عفت او پاکلمنۍ لرې شي؛هومره پکې د جرمونو کچه هم لوړېږي. بې بندوباره هلکان او نجونې د لوچکو وګړیو ښکار کېږي او ناوړه ګټنه ترې کېږي.

زموږ هلکان او نجونې باید پوه شي، چې ښوونځی او روغ چاپېریال هغه ځای دی، چې انسان پکې خپله آریزه موخه ورکه نه کړي او د انسان استعدادونه او ړتیاوې پکې خپرې ورې نشي.

اسلام ځینې وګړي ((محرم)) او ځینې وګړي ((نامحرم)) ګڼلي دي؛ نو که وغواړو، چې د الله ښه بندګان وو سو؛ نو هغسې چې هغه ویلي، باید هغسې جامې واغوندو او هر ځای چې یې راته ویلي، پټ او و یې پوښو. هلکان هم باید داسې جامه و نه کړي، چې لوچک وګړي ورته په بده سترګه وګوري.

قران کریم وایي: ((او چې له دوی (= د پیغمبر له مېرمنو) کوم ځیز غواړئ؛نو د پردې تر شا یې وغواړئ، چې دا کار ستاسې او د دوی د زړونو د سپېځلتیا لپاره غوره دی.[1]))

---

[1]. احزاب/۵۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلک او نجلۍ او سړي او ښځې بې حجابه او بې حریمه اړیکه او یو ځای کېدل د دواړو د زړه او اروا پاکي ټکنۍ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پينځويشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (څو روغتيايي سپارښتنې)

((وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ. وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ[1]= او پالونکی دی ستر ګڼه، او جامې دې پاکې کړه، ))

مهمه خو داده، چې الله د تکبير د حکم ترڅنګ (وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ= او پالونکی دی ستر ګڼه) وايي: (وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ= او جامې دې پاکې کړه)؛ يعنې پاکوالی يې د تکبير او عبادت ترڅنګ راوړی دی.

اسلام هم د بدن د پاکوالي او هم د جامو د پاکوالي سپارښتنه کړې ده.

په اوداسه کې مخ و لاسونو وينځل او په غسل کې د ټول بدن وينځل ځکه دي چې خلک تل پاک و سوتره وي.

که يو څوک په سړو اوبو اودس وکړي او بيا مخ وچ نه کړي؛ نو ثواب يې ډېر دی، ځکه کېدای شي څومره چې څوک په يخو اوبو اودس کوي، هومره يې تازه والی ډېر وي. د نوکانو پر پرې کولو او مسواک

[1]. مدثر/۳-۴ آيتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلو خورا سپارښتنه شوې ده، رسول الله (ص) وايي: ((که پر خلکو سخته نه وه؛ نو مسواک وهل به مې واجب کړي ول. ))

له آنحضرت (ص) سره به تل مسواک و.

په يوه حديث کې راغلي دي: (( الله چټليو خلکو ته غوسه کېږي. ))

الله پاکوالی او ښکلا خوښوي او سپارښتنه يې کړې، چې تر وسې بايد پاک ووسئ. پاکوالی له رنځونو مخنيوی هم دی.

پاکوالی او له رنځونو مخنيوی د ټولو دنده ده.

پاکوالی او له رنځونو مخنيوی، تر درملنې اسان او کم بيه دی.

پاکې جامې د انسان پر اروا او زړه اغېز کوي او غم او خپګان له منځه وړي.

سپارښتنه شوې چې هغه مهال حمام ته ولاړ شئ، چې نه وږي وسئ او نه مو نس ډک وي او له حمامه چې راوځئ؛ نو سر مو وپوښئ، ان که دوبی هم وي.

په هره اونۍ کې د جمعې د ورځې غسل کوئ؛ يعنې لومړی سر او ورمېږ او د بدن ښی اړخ او ورپسې يې کيڼ اړخ ووينځئ.

هر څوک بايد د ځان لپاره ځانګړی مسواک، ځانپاک او ږومنځه ولري او نور دې ترې ګټه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام په سخته منع کړي يو ، چې متيازې به په ځان کې نه ساتئ او خورا سپارښتنه يې کړې چې ډېر روانو اوبو او شنو بوټو ته ګورئ.

تر هغه خواړه مه خورئ، څو سم وږي شوي نه یاست او مخکې تر هغه چې بشپړ ماړه شئ، له خوړه لاس پر سر شئ.

مېوې تر خوړو مخکې ووينځئ.

اسلام وايي: وړه مړۍ اخلئ او ډېره يې جوئ او هغه مهال مو په عمر کې نه شمېرل‌کېږي، چې پر خوړو بوخت یاست؛ يعنې په خوړو کې بيړه مه کوئ.

معده د ډېرى رنځونو کور دى. له ډېرخورۍ ځان وساتئ؛ ځکه نس د انسان دښمن دی، د کمخوره انسان بدن روغ وي.[1]

---

[1]ژباړن: شاعر وايي: هغه چې بسيارخور شي، بسيارخوار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږویشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (روغتیایی احکام)

اسلام پاکوالي او روغتیا ته خورا ارزښت ورکوي.

رسول الله (ص) خپلې جامې په یوه دیگ کې اچولې او بیا یې خوټولې، چې د پاکوالي لوړه درجه یې ساتلې وي.

د حضرت محمد (ص) شعار دا و: ((پاکوالی د اسلام ستن ده.))

بل شعار یې دا و: ((پاکوالی د ایمان برخه ده.[1]))

دا چې په اسلام کې د تورو جامو اغستو سپارښتنه نه کېږي، شونې ده دلیل یې دا وي، چې ناپاکي او خیرې پر تورو جامو نه ښکاره کېږي او انسان یې وینځلو ته نه اړ ایستل کېږي.

د حضرت محمد (ص) د ژوند په باب راغلي ، چې د پاکوالي، روغتیا او له رنځه د مخنیوي په برخه کې خورا هڅاند و او نور ته یې هم ددې چار سپارښتنه کوله.

اسلام سپارښتنه کوي:

---

[1]. بحارالانوار، **۵۹** ټوک، **۲۹۱** مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



1 - په هغو اوبو ځان مه وینځئ، چې یو ځل پرې مخکې چا ځان وینځلی وي.
2 - د خلکو ان د دښمنانو د ښناک اوبه مه چټلوئ.
3 - تر خوړو روسته لوښي ژر ووینځئ او تر وینځلو روسته یې چپه کېږدئ.
4 - خواړه دومره ګرم مه خورئ، چې خوله مو وسوځوي.
5 - تر غوړو خوړو روسته یخې اوبه مه څښئ.
6 - تر خوړو مخکې مو لاسونه ووینځئ، وینځلي لاسونه مه وچوئ؛ ځکه کېدای شي په هغه ټوکر چې لاسونه وچوئ، ککړتیا ولري.
7 - د ځارویو پاتې شوني خواړه مه خورئ.
8 - غاښونه مو په یوه پاک څیز خلال کړئ.
9 - ماښام او هغه مهال چې رڼا لږه وي، مطالعه مه کوئ.
10 - په بیړه خواړه مه خورئ او مړی مو کوچنی اخلئ.
11 - کجورې، زیتون، انځر، انار، سبزیانې، حبوبات، غوښه او شات وخورئ؛ خو چې اسراف پکې و نه کړئ.
12 - خواړه باید په ناسته او داسې وخت کې وخوړل شي، چې حرکت و نه لرئ.
13 - خواړه چې خورئ؛ نو ورګوئ، چې اشتها مو ورته زیاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



14- خوړو ته تر خوړو مخکې په ځير وګورئ، چې کوم مضر څه پکې نه وي.

15- دسترخوان ته چې ناست ياست؛ نو خپلو خوړو ته ګورئ، د بل ته نه.

16- خوړو ته مو ځير شئ او په چمتو کولو کې يې د الله له ځواکه مه غافلېږئ، چې الله يې چمتو کولو ته څنګه له ټولې هستۍ کار اخستی او څنګه يې جوړ کړي دي؟ له خاورې او بې رنګه اوبو يې بېلابېلې مېوې له بېلابېل خوندونو سره پنځولي دي.څنګه يې خواړه د انسان له معدې او هضمي سستم – غونډال سره همغږي کړي دي. د بېلګې په توګه: په غنمو يا مڼه کې بايد څومره ګلوکوز، څومره اوبه او څومره کانيز توکي وي.

خوړو ته ځير شئ، چې تر هضم او جذب روسته څنګه پر غوښه، هډوکو، غاښونو، وېښتانو، وينه، پر ترخو اوښکو او خوږو توکاټو بدلېږي.

خوړو ته ځير شئ، چې څومره انسانان يې په چمتو کولو کې زيار ګالي او موږ بايد د دوی زحمتونه تويې نه کړو.

خوړو ته ځير شئ، هغه ځواک (انرژي) چې يې تر خوړو روسته لاس ته راوړو، په سمه ځای او لار کې ولګوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږو ته مو ځير شئ او سوچ وکړئ، چې آيا دا خواږه نور خلک هم لري که نه يا په ميليونو انسانان وږي او له دې خوږو بې برخې دي؟

خوږو ته ځير شئ او په چمتو کولو کې يې له لمر، ورښت، اوبو، خاورې، باد او نورو لاملونو مه غافلېږئ.

اسلام تر خوږو مخکې، خوږو پرمهال او تر خوږو روسته ته روغتيايي احکام لري.

تر خوږو روسته ځينې احکام يې:

۱-تشې او ډکې متيازې په ځان کې مه ساتئ او ژر او د سماتي ته ځئ.

۲-په ولاړه تشې متيازې مه کوئ؛ ځکه بدن او جامې نجسوي او هم په ولاړه په بشپړه توګه متيازې نه تشېږي او د متيازو په پيپ کې يو څه متيازې پاتېږي.

۳-مخ په قبله، شا په قبله، د خلکو په مخ کې، مخ په لمر، باد او سپوږمۍ متيازې مه کوئ.

۴-د اوبو په نېرونو، ويالو، ډنډونو، د ونو بيخ، په کوڅو، لارو او واټونو کې متيازې مه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵**-تر متيازو کولو روسته بايد استنجا وکړو او ځان په اوبو پاک وونځو.

**۶**-تشناب مو د کور په لرې برخه کې جوړ کړئ.

**۷**- تر ويد پدو مخکې هرومره تشناب ته ولاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووه ويشتمه زده کړه: اسلامي اخلاق (ادب)

که انسان پانګه، پوهه، ښکلا او عقل ولري؛ خو ادب و نه لري؛ نو دا هر څه له لاسه ورکوي او خلک به ترې خپه او الله به ورته غوسه وي. هو ! ((د عالم او عاقل ارزښت په ادب کې دی.[1]))

هغه چې ادب لري، سپکې سپورې نه وايي، کنځل نه کوي، غيبت نه کوي، ورانه خوله نه خوځوي او تور نه لګوي.

مولا علي کرم الله وجهه وايي:

((هغه چې ادب لري، تر هغه غوره دی، چې مشهوره کورنۍ لري؛ خو ادب نه لري.[2]))

امام صادق وايي:

((که مور و پلار خپل اولاد په ادب وروزي، تر هغه غوره دی، چې اولاد يې بې ادبه وي او بې ادبه اولاد ته پانګه او مال زېرمه کړي.[3])) او بيا يې وويل: ((انسان ادب ته تر مال او شتمنۍ ډېره اړتيا لري.[4]))

---

[1]. غررالحکم، ۴۸ مخ.
[2]. غررالحکم، ۲۴۸ مخ.
[3]. اصول کافي/ اتم ټوک، ۱۵۰ مخ.
[4]. غرر الحکم، ۲۴۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام باقر خپل زوی ته سپارښتنه کوي:

((له بې ادبو وګړیو سره ملګرتیا به دې خراب کړي.)) او ((هغه چې د خولې برغولې نه لري او هر څه وايي؛ نو ژر به پښېمانه شي.[1]))

باید له خلکو سره مو وینا او کړنې داسې وي؛ لکه څنګه چې خوښېږو، چې د خلکو وینا او کړنې هماغسې له موږ سره هم وي.

رسول الله (ص) وايي:

((په غوسه کې څوک مه ادبوئ[2])).

ځکه شونې ده په داسې وخت کې ادبول له وهلو، ډبولو او سپکاوي سره مل وي، چې پایله به یې اپوټه وي.

له باادبه وګړیو سره ملګرتیا به دې باادبه کړي. د علم زده کړه هم پر ادب اغېزمنه ده. د نورو درناوی د دوی د ادبولو لامل ګرځي.

د ادب لومړی ځای دادی، چې د الله ادب ولرو، د الله نامه په ستریا واخلو، بې اودسه د الله او رسول الله پر نامه او قرآن شریف لاس کېنږدو او که په ستونزه کې راګېر شوو؛ نو لامل یې الله و نه ګڼو. د بېلګې په توګه: که خوبوړي وو، یا مو موټر خراب و او یا مو ټرافیکي

---

[1]. تحف العقول/۳۷۲ مخ.
[2]. اصول کافي، اووم ټوک، ۲۶۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوانين پلي نه کړل او پېښه مو وکړه؛ نو و نه وايو، چې الله راپېښه کړه.

قرآن کريم په څو ځايونو کې وايي:

((خداى پرې تېرى کړى نه دى ؛ بلکې دوى پر ځانونو تېرى کوي[1].))

قرآن کريم په فجر سورت[2] کې وايي:

[خو انسان ته يې چې پالونکى د ازمېښت لپاره عزت او نعمت ورکړي، (مغروربږي) وايي: ((پالونکي مې عزتمن کړم (؛ ځکه ځاى يې راکې شته) !)) او چې د ازمېښت لپاره روزي پرې ورتنګه کړي؛ نو (نهيلېږي او) وايي: ((پالونکي مې سپک کړم !)) هېڅکله داسې نه ده ! (کړه وړه مو سم نه دي)؛ بلکې پلارمړي نه پالئ، او يو بل بېوزليو ته د خوړو په ورکولو نه هڅوئ، او (له مشروعو او

---

[1]. آل عمران/١١٧(وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّهُ وَلَكِنْ أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ)

[2]. فجر/١٥-٢٠ آيتونه.(( فَأَمَّا الْانسانُ إِذا مَا ابْتَلاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَ نَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّى أَكْرَمَنِ.وَ أَمّا إِذا مَا ابْتَلاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّى أَهانَنِ.كَلاّ بَلْ لاتُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ. وَ لاتَحَاضُّونَ عَلى طَعامِ الْمِسْكِينِ. وَ تَأْكُلُونَ التُراثَ أَكْلاً لَمّاً. وَ تُحِبُّونَ الْمالَ حُبّاً جَمّاً ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامشروعو لارو) ميراث راټولوئ او خورئ يې،او له شتمنۍ سره ډېره مينه لرئ(او له لامله يې ډېر ګناهونه کوئ).]

د الله په اړه ادب دادی، چې د لمانځه پر مهال مو جامې پاکې او ښکلې وي، بدن مو هوسا وي نه ستړی، مسواک مو وهلی وي، د الله د بندګانو او جوماتونو درناوی وکړو، چې د الله کورونه دي.

## د بوډاګانو په تړاو ادب

امام حسن او امام حسين په ماشومتوت کې يو بوډا وکوت، چې اودس کوي؛ خو سم يې نه کاوه، غوښتل يې پوه يې کړي؛ خو په تشويش کې شول، چې که ورته ووايي، چې سم اودس نه کوې؛ نو خپجله به شي؛ نو د ادب په پار يې، بوډا ته يې وويل: موږ دوه کوچنيان به اودس وکړو؛ نو ته مو وڅاره، چې د چا اودس سم دی؟ دې دوو کوچنيانو د بوډا په مخ کې اودس وکړ. بوډا وويل: ستاسې د دواړو اودس سم دی، زما اودس ناسم دی.[1]

## د موروپلار په اړه ادب

د موروپلار په اړه ادب دادی، چې خپل غږ مو د دوی تر غږه لوړ نه کړو، په مينه ور وګورو، مننه يې وکړو، خبره يې ومنو، پر لار چې ځي، مخې ترې نه شو او بې اجازې يې چېرې ولاړ نه شو.

---

[1].بحارالانوار، ۴۳ مخ، ۳۱۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نامسلمانانو په اړه ادب

که د کورنۍ له غړیو ، ګاونډیانو او ټولو خلکو سره په ادب وچلو ؛ نو پر ټولو به ګران یو. امام صادق یو ملګری درلود ، چې خپل مریي ته یې سپکې سپورې خبرې وکړې. امام له ډېر خپګان خپل ځان ته سپېره ورکړه او و یې پوښتل: ولې دې خپل مریی داسې ناروا تورن کړ؟ ملګري یې وویل: هغه مې مریی او مور یې هم مسلمانه نه ده. امام وویل: ان نامسلمان او ان مریی هم ناروا تورنولی نشې، ما خو ته با ادبه ګڼلې، اوس چې دې داسې بې ادبي وکړه؛ نو له ما لرې شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اته ویشتمه زده کړه: د فراغت وختونه

انسان دې خپل شوا روز د څو څیزونو لپاره وویشي:

۱-د کار او زده کړې لپاره.

۲-د عبادت او خدمت لپاره.

۳-د خوب او دمې لپاره.

۴-د تفریح لپاره.

ځکه که تفریح نه وي؛ کار، زده کړې، چوپړ او عبادت ته به مو سمه ډډه نه لګي. په اسلام کې د ګټورو ورزشونو- ادمان؛ لکه د اس سپرلي، غشی ویشتنه او لامبو سپارښتنه شوې او دې ډول چارو ته یې سیالۍ هم اېښې وې او پخپله رسول الله (ص) به هم پکې ګډون کاوه او ګټونکیو ته به یې ډالۍ او انعامونه هم ورکول. هغه مهال یې ګټونکیو ته د کجورې ونه او بلاربه اوښه ورکوله او تاسې ښه خبر یاست چې کجوره هغه مېوه ده، چې تر ډېرې مودې یې ساتلی شې، بې له دې چې ورسته شي او له پاڼو او لرګیو یې هم خورا ډېرې ګټې کېدای شي.

اوښه چې لنګه شي؛ نو له بچي، ورګو، شیدو او همدا راز روسته یې له وړیو هم ګټنه کېږي او بار هم وړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي ورزشونو کې کنځل او کينه نه وي. اسلام د ښځې او سړي دواړو لپاره ورزش اړين ګڼي او مورو پلار ته سپارښتنه کوي، چې اولادنو ته مو غشی ويشتل دفاع ته او لامبو ځان ژغورلو ته ورزده کړئ.

اسلام د ډېرې چارو ثواب، د تګ، حرکت او کوښښ پر بنسټ، چې يو ډول ورزش دی، ايښی دی. د بېلګې په توګه وايي: هر ګام چې د خپلوانو ليدو يا د علم زده کړې يا په جومات کې د لمانځه لپاره اخلئ، ثواب لري؛ يعنې ثواب او انعام يې د ورزش پر بنسټ، چې ګام اخستل دي،ايښی او نه دي يې ويلي، هر ټکی چې زده کوئ او د خپلوانو هره ليدنه چې کوئ، ثواب لري؛ بلکې ويلي يې دي: هر ګام چې د دې چارو لپاره پورته کوئ؛ نو څرګنده ده، چې پلی ګرځېدل (ګام پورته کول) خورا ساده، عمومي،ارزانه او د ټولو په لاسرس کې ورزش دی او د ځينو ثوابونو بنسټ هم پرې ايښوول شوی دی.

نوکان اخستل، د جمعې پر ورځ غسل او پاکوالی، ديني غونډو ته تلل، د دوستانو او خپلوانو ليدو ته تلل، مړی ژوندی کول او د جمعې په لمانځه کې برخه اخستل، د رخصتۍ د ورځې احکام دي.

د جمعې ورځ د مسلمانانو يو اختر ګڼل کېږي.

د جمعې د ورځې لمونځ يو عبادت دی؛ خو نورې ځانګړنې هم لري:

۱-د ماسپښين د لمانځه پر ځای کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲**-د ماسپښین فرض لمونځ څلور رکعته؛ خو د جمعې دوه رکعته دی.

**۳**-د جمعې د لمانځه امام دوه خطبې او وېناوې لري، چې د دواړو ترمنځ یوه شېبه کښېني. دا دوه خطبې د دوو فرض رکعتونو پر ځای حسابېږي او امام جمعه باید خلک تقوا او له ګناه ځان ساتلو ته راوبلي او په خپلو وېناوو کې هغه څه خلکو ته ووایي، چې د وخت اړتیا وي.

**۴**-د خطبو اوربدل لازم دي.

**۵**-امام جمعه باید خپلې خطبې په ولاړه ووایي او وسله او یا یې ورته څیز په لاس کې وي.

مورږ باید په خپلو رخصت ورځو کې خپلې ټولې وګړیزې او ټولنیزې نیمګړتیاوې جبیره کړو، هم خپل بدن ته رسېدګي وکړو او هم روح ته. هغې اړینې زده کړې، چې د کار او زده کړې پر مهال مو وخت ورته نه و کړی، په رخصتیو کې یې جبران کړو. له هغو هنرونو او کسبونو مه غافلېږئ، چې سبا ورځ مو له بېوزلۍ ژغوري، په تېره هغه هنرونه او کسبونه، چې پر هنر او کسب سربېره، وتېزه ګټه هم ولري. د بېلګې په توګه: ګنډل، اوبدل، لاسي صنایع او داسې نور چې تاسې، کورنۍ او هېواد ته وتېزه ګټه ولري. په رخصتیو کې هرومرو یوه فن او هنر زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورزش هم باید له اخلاقو، میني او چوپړ سره مل وي،  نه پر نورو ویاړني او کړولو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**